د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا او
درسي کتابونو د تاليف رياست

پښتو

دريم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ . ش.

د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او

درسي کتابونو د تالیف ریاست

پښتو

دریم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ . ش.

د کتاب د تألیف، څېړنې او تدقیق کمیټې

لیکوالان:

۱. د سرمؤلف مرستیال امین الله نژند د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د پښتو دیپارټمنت علمي غړی.
۲. مؤلف عبدالظاهر گلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست رئیس.

تایید او مطالعه:

ملي شورا

- د ولسي او مشرانو جرگو د دیني چارو، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

د څېړنې او تدقیق کمېټې:

کابل پوهنتون:

- پوهندوی محمد رفیق رفیق د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو د پوهنځي د پښتو دیپارټمنت استاد.

علومو اکاډمي:

- سر څېړونکی عبدالواجد واجد د افغانستان د علومو د اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو د مرکز رئیس.

د پوهنې وزارت

- داکټر احسان الله ناشر د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړی.
- الحاج عبدالاحد غزنیوال د پوهنې وزارت د علمي شورا کار کوونکی.
- د سر مؤلف مرستیال سید محمود کارگر د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونود تالیف ریاست د پښتو دیپارټمنټ علمي او مسلکي غړی.
- د مؤلف مرستیاله فروزان خاموش د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونود تالیف ریاست د پښتو دیپارټمنت علمي او مسلکي غړې.

د کتاب ایډیټ کوونکي:

- د مؤلف مرستیال محمد عزیز تحریک د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونود تالیف ریاست د پښتو د یپارټمنټ آمر.
- د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړی.
- د مؤلف مرستیال فیض الله فائیز د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د ریسرچ دیپارټمنت علمي غړی.

انځورکوونکي:

نفیسه پوپلزۍ او حفیظ الله منیر.

د محتویاتو، دینی، فرهنگي او سیاسي برخو د څېړنې او کره کتنې کمېټې:

- دوکتور محمد یوسف نیازي د پوهنې وزارت سلاکار.
- محمد آصف ننگ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

د څېړنې او تدقیق د څارنې کمیټه:

- دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ساینس مرکز او د خپرونو مرستیال. دکمېټې رئیس
- محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.
- د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر گلستانی د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

بسم الله الرحمن الرحيم

پیغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت دکلکې ارادې، بیدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی خوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام له پیل څخه ملي سترو موخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نوو پروګرامونو تګلاره پیل کړې ده. د ښوونې او روزنې په برخه کې او د معارف د نوي کیدو او غوړیدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښتینو او د پیاوړو مسلمانانو په توګه د نوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سواندې لارښوونې چې تر تطبیق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پرمختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست ته دنده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسی اوموخو په رڼا کې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځواب ووایي.

زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغاني ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیار شوی، موخه یې د هېواد د بچیانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یې دپوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن له پرمختګ سره اشنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شوي دي ګټه واخلي. دنوي افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د ساینس او تکنالوژۍ له بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونو د ساتنې، سولې، هېوادپالنې، ملي یوالي، د استوګنې د سالم چاپیریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړویه سرکې په پام کې ونیسي.

مونږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلو او پیاوړي کولو کې مرستې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکو هېوادونو او درنو سازمانونو (د امریکا د متحده ایالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانک اویونیسکو)څخه چې دکتابونو په تالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده منته کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې د درسي کتابونو په ښه ساتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

فاروق وردک

دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر

د کتاب فهرست

سرليکونه	مخونه		سرليکونه	مخونه
قرآن کريم	۱		نثر	۴۲
د حضرت محمد (ص) کوچنيوالی	۳		مکرجنه ګيدړه او ناپوه چرګ	۴۴
حضرت ابوبکر صديق (رض)	۵		ماينونه	۴۶
د ښوونکي مقام	۷		ترافيکي لارښوونې	۴۸
ښه زده کوونکي	۹		رښتيا ويل	۵۰
ټوکه او کيسۍ	۱۱		روغتيا	۵۲
راځئ چې کتاب ولولو	۱۳		د چاپېريال د پاکوالي ساتنه	۵۴
قلم وايي	۱۵		زموږ چاپېريال	۵۶
د پوهولو او راپوهولو لارې چارې	۱۷		د سګرټ څکولو زيانونه	۵۸
د ناروغۍ رقعه	۱۹		چرچرک او مېږی	٦۰
ضروري رقعه	۲۰		د غاښونو ساتنه	٦۲
د ماشومانو لوبې	۲۱		د ملاريا ناروغي	٦۴
بريالی	۲۳		هيوادنۍ مينه	٦٦
د مور او پلار حقونه	۲٦		د غزني ښار	٦۸
د مور ورځ	۲۸		دوه اخترونه	۷۰
د ليک او لوست ارزښت	۳۰		د ټګ راتګ وسيلې	۷۲
نظم	۳۲		جرګه	۷۴
ځانځاني	۳۴		وزلوبه(بز کشي)	۷٦
هوښياره نجلۍ	۳٦		د اوړي موسم	۷۸
د کور په کارونو کې مرسته	۳۸		باغوان	۸۰
خواخوږي	۴۰		د ونو ګټې	۸۲

سرليکونه	مخونه
د وخت ارزښت	۸۴
باران	۸۶
بزګر	۸۸
ترکاڼ	۹۰
تيلفون	۹۲
د الوتونکو وزرونه	۹۴
طبيعي شتمني	۹۶
کار او طبيعت	۹۸
ورمونه	۱۰۰
متلونه	۱۰۲
د مني موسم	۱۰۴
د ژمي موسم	۱۰۶
د اور ګټې او زيانونه	۱۰۸
الوتونکي مرغان	۱۱۰
رښتيني هلک	۱۱۲
د کورني چرګانو ساتنه	۱۱۴
پر حيواناتو زړه سوی	۱۱۶
مرغان او دځالو جوړونه	۱۱۸
ښه کړه وړه	۱۲۰
د شاتو مچۍ	۱۲۲
وربښم څرنګه لاس ته راځي	۱۲۴
روغه جوړه	۱۲۶
د زرد آلو زړی	۱۲۸
زيار او هوسايي	۱۳۰
ليک نښې	۱۳۲
ساده کلمې	۱۳۴
مرکبې کلمې	۱۳۶
وروستاړي	۱۳۸
مختاړي	۱۴۰
عبارت او جمله	۱۴۲
جمله	۱۴۴

لومړی لوست

قرآن کریم



موخه: د متن لوستل، لیکل، د قرآن کریم په لارښوونو باندې عمل کول او د نوو کلمو په معنا پوهیدل دي.

پوښتنې:

۱. قرآن کریم پر کوم پیغمبر نازل شوی دی؟

۲. آیا ویلی شئ چې قرآن کریم څو آیتونه، څو منزلونه او څو سورې لري؟

۳.د قرآن کریم د تلاوت نه مخکې باید کوم ټکي په پام کې ونیول شي؟

قرآن کریم د خدای (ج) کتاب دی او د مسلمانانو د لارښوونې لپاره پر حضرت محمد (ص) نازل شوی دی.

د قرآن کریم تلاوت او لوستل ځانګړی ثواب لري.

څوک چې قرآن کریم تلاوت کوي او یایې په لاس کې نیسي باید په اوداسه وي. ښه زده کوونکي همېشه د قرآن کریم تلاوت کوي، پر لارښوونو یې عمل کوي او دهغه ادب ساتي.

لغتونه او معناګاني:

نازل : رالېږل شوی	ځانګړی : خاص
تلاوت : لوستل	درناوی : احترام

دزده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې په وار سره دقرآن کریم لوست په لوړ آواز ولولي.
- د لاندې کلمو سمه معنا د درکړل شوي چوکاټ له کلمو څخه وټاکئ او بیا یې د کلمو تر څنګه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

١. تلاوت ________
٢. ځانګړې ________
٣. همېشه ________

تل، خاص،
دقرآن کریم لوستل

د لاندې کلمو مفرد شکل په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

جمع	مفرد
آیتونه	آیت
مسلمانان	
سورې	
ادبونه	

کورنی دنده:

- لاندې جملو کې تش ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ!
- (قرآن کریم،حضرت محمد (ص)، خدای(ج))
- قرآنکریم د__________ کتاب دی او د مسلمانانو د لارښوونې لپاره پر ______نازل شوی دی.
- د ______ تلاوت او لوستل ځانګړې ادبونه لري.

د حضرت محمد(ص) کوچنیوالی

دوهم لوست

موخه: د متن لوستل، لیکل، د نوو کلمو په معناوو پوهېدل، د حضرت محمد(ص) د لوړ شخصیت پېژندل او د هغه په کړو وړو عمل کول دي.

پوښتنې:

۱. تاسې د حضرت محمد (ص) په هکله څه ویلی شئ، خپل معلومات نورو ته وړاندې کړئ!

۲. په پورتني عکس کې کوم زیارت وینئ؟

زموږ پیغمبر حضرت محمد(ص) له کوچنیوالي څخه د ښو او نېکو اخلاقو څښتن و. حضرت محمد (ص) به د خپلو همزولو له کورنیو سره په ډېر درناوي چلند کاوه. له دی کبله دده نیکه (عبدالمطلب) ورته تل دځوی خطاب کاوه او په هغه باندې ډېر ګران و. همدا رنګه د ده تره (ابوطالب) هم په ده باندې ډېر پام کاوه او د خپلو اولادونو په شان ورته ګران و. حضر ت محمد(ص) هم د مشرانو درناوی او عزت کاوه او له هغوی سره یې دکور او کورنه بهر په کارونو کې مرسته کوله، ځکه هغوی ته د زړه له کومي ګران و. که څه هم دی یتیم و خو دخپل نیکه او تره په شفقت او مهربانۍ کې یې د پلا رمینه تر لاسه کړې وه.

لغتونه او معنا ګانې:

پيغمبر :	پيغام وړونکی
بې وزله :	غريب
جامع :	يو نوم دی

د زده کوونکو فعاليتونه:

- له يو بل سره متن ولولئ.
- له تورو څخه کلمې جوړې او د چوکاټ په خالي ځايونو کې يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ک+و+چ+ن+ي+و+ا + ل + ی =	کوچنيوالی
هـ+م+ز+و+ل+و=	
ج+ ا +م+ ع =	
هـ+ل+ک =	
پ+ ا+ ک =	

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي د ې په خپله خوښه د لوست درې کرښې په خپلو کتابچو کې وليکي.

حضرت ابوبکر صدیق(رض)

موخه: د متن لوستل، لیکل، دحضرت ابوبکر صدیق (رض) دلوړ شخصیت پېژندل او د هغه په کړووړو عمل کول او دنوو کلمو په معنا وپوهېدل دي.

پوښتنې:

۱. آیا د حضرت ابوبکر صدیق (رض) په هکله څه ویلی شئ؟
۲. د حضرت ابوبکر صدیق (رض) اصلي نوم څه دی؟
۳. حضرت ابوبکر صدیق (رض) د حضرت محمد(ص) څویم یار دی؟

حضرت ابوبکر صدیق (رض) د حضرت محمد (ص) لومړی یار و. اصلي نوم يې عبدالله، د پلار نوم يې (عثمان) او په ابو قحافه سره يې شهرت درلود.

د حضرت محمد(ص) له خوا ورته د صدیق لقب ورکړل شوی و. ابوبکر صدیق(رض) دیندراه او د ښو کړووړو خاوند و. تل به يې له خلکو سره په ورين تندي خبرې کولې. په خپلو دندو کې وفا دار او رښتینی و.ده خپل مال او شتمني د خدای (ج) په لاره کې ورکوله. او له بې وزلو سره يې د خپل توان په اندازې مرسته کوله. حضرت ابوبکر صدیق(رض) له کوچنیوالي څخه د حضرت محمد(ص) سره مینه درلوده، ناسته او ولاړه به يې ورسره کوله. کله چې حضرت محمد(ص) په پیغمبری مبعوث شو، نو حضرت ابوبکر

صدیق(رض) لومړی سړی و، چې په حضرت محمد (ص) یې ایمان راوړ او د اسلام په مبارک دین مشرف شو. کله چې حضرت محمد(ص) له مکــې معظمې نه مدینې منورې ته هجرت کاوه دی یې د لارې ملګری و او همدا راز په ټولو غزاګانو کې ور سره و. کوم وخت چې حضرت محمد(ص) له دې نړۍ څخه رحلت وکړ، نو حضرت ابوبکر صدیق (رض) د مسلمانانو خلیفه وټاکل شو. دوه کاله او شپږ میاشتې یې خلافت وکړ او د ٦٣ کالو په عمر یې له دې دنیا څخه رحلت وکړ.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- یو د بل په مرسته د لوست جملې په کرار سره ولــولئ. دحــضرت ابــوبکر صدیق(رض) د کړووړو په هکله له یو بل سره خبرې وکړئ.
- د لاندې کلمو سمه معنا له چوکاټ څخه پیدا او د کلمو تر څنګ یې په خپلو کتابچوکې ولیکئ.

– صدیق ______	– ورین ______	– هجرت ______	رښتینی، عزتمند، پراخ،
– مشرف ______	– بېوزله ______	مبعوث ______	بېلتون، غریب، لېږدېدنه

لاندې پوښتنو ته په شفاهي توګه ځوابونه ورکړئ.

۱. د حضرت ابوبکر صدیق (رض) د پلار نوم څه و او په څه باندې مشهور و؟

۲. د حضرت محمد (ص) لومړی یار څوک و؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه په سمو کلمو سره ډک او پــه خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

۱. حضرت ابوبکر صدیق (رض) د حضرت محمد (ص) لومړی ______ و.

۲. ابوبکر صدیق (رض) دینداره او د ________ خاوند و.

څلورم لوست

د ښوونکي مقام

موخه: د ښوونکي په درناوي او دهغه د دندې په ارزښت پوهېدل او د دې متن سم لوستل، لیکل او د نوو کلمو په معنا پوهېدل دي.

پوښتنې

۱. تاسې لیک او لوست له چا نه زده کوئ؟
۲. ښوونکی پر موږ باندې ولې د مور او پلار په شان حق لري؟
۳. تاسې د خپل ښوونکي ورځ څه ډول لمانځئ؟



هغه څوک چې موږ ته لیک او لوست را زده کوي، ښوونکی نومېږي. ښوونکی موږ ته هره ورځ نوي معلومات راکوي. موږ د نوي او سوکاله ژوند لپاره روزي، نو ښوونکی څکه د مور او پلار په شان په موږ باندې حق لري. باید درناوی یې وکړو او په لارښوونو یې عمل وکړو. د ښوونکي د مقام د درناوي په خاطر په ځینو هېوادونو کې یوه ورځ د ښوونکي د ورځې په نوم لمانځل کېږي. همدارنګه زموږ په هېواد کې هم یوه ورځ د ښوونکي د ورځې په نامه شته، چې د زده کوونکو له خوا په خوشحالۍ اود ترانو په ویلو لمانځل کېږي. زده کوونکي د خپلو ښوونکو په ګډون مېلې جوړوي او په خوښۍ سره دغه ورځ تېروي.

لغتونه او معناګانې:

مقام :	منزلت
درناوی :	احترام
هېواد :	وطن

د زده کوونکو فعالیتونه:

- یو د بل په مرسته د متن جملې ولولئ؟
- د لاندې کلمو معناوې په چوکاټ کې له لیکل شوو کلمو څخه وټاکئ او بیا یې د کلمو تر څنګ په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

سوکاله:__________

درناوی:__________

ښوونکی:__________

احترام
آرامه
استاد

- زده کوونکي دې د متن د څو جملو املاء یو بل ته ووایي.

کورنۍ دنده:

- ګرانو زده کوونکو! د ښوونکي، لیک، لوست، درناوی کلمې لومړی په لنډوجملوکې وکاروئ.او بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ!

پنځم لوست

ښه زده کوونکي

موخه: د ښو زده کوونکو په ښو صفتونو پوهېدل. د هم ډوله (مترادفو) کلمو پېژندل او دهغو سمه کارونه او د دې شعر سم لوستل او سم ليکل دي.

پوښتني:

۱. موږ چا ته ښه زده کوونکی ويلی شو؟
۲. تاسې چې ښه زده کوونکي يآست څه بايد وکړئ؟
۳. ستاسو له نظره ښه زده کوونکی بايد کوم کارونه تر سره کړي؟

د مکتب ښه شاګـــردان يـــو — د هېـــواد ښــــکلي ګلان يو
په شوق وايـــو خپـــل درسونه — موږ د پـــوهې مـــينان يو
مـــدام پـــام پـــه کتابـــو کړو — د کـــتاب طـــرفـــداران يو
د لـــويانو کـــړو نـــمانـــځنه — د عالي خوي خـــاوندان يو
رښتـــيا وايـــو رښتيـــا اورو — په رښـــتيا پســـې روان يو
مـــهال وېش سره سم درومو — همېشه وخـــت شناسان يو
ازمـــويني نـــه خنګ نه کـــړو — ښـــه ډاډه په امتـــحان يو
هېڅ وخت چا سره جنګ نه کړو — يو د بل انـــــــډيوالان يو
د نژند يو موږ مـــلګـــري
مينه ناک د خپل عرفان يو

محمد عثمان نژند

د زده کوونکو فعالیتونه:

- د ښو زده کوونکو په اړه له یو بل سره خبرې وکړئ او بیا دې د هرې ډلې یو تن زده کوونکی د ټولګي مخې ته راشي او د ښه زده کوونکي د صفتونو په هکله دې نورو ته معلومات ورکړي.
- په لوستل شوي شعر کې هم وزنه کلمې پیدا کړئ لکه شاګردان،ګلان او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.
- په لاندې چوکاټ کې مترادفې کلمې پیدا کړئ او د کرښې په واسطه یې په خپلو کتابچو کې سره ونښلوئ.

مکتب	امتحان
شاګردان	همېشه
ښکلې	زده کوونکي
مینه	وطن
هېواد	ښایسته
مدام	محبت
ازموینې	زحمت
زیار	ښوونځی

کورنۍ دنده:

- لاندې نیمګړې بیتونه د چوکاټ په مناسبو نیم بیتو سره بشپړ. او په کتابچو کې یې ولیکئ.

موږ د پوهې مینان یو
د هېواد ښکلي ګلان یو
د کتاب طرفداران یو

- د مکتب ښه شاګردان یو ______________
- په شوق وایو خپل درسونه ______________
- مدام پام په کتابو کړو ______________

یادونه: مترادفې کلمې: هغه کلمې دي چې په معنا کې یو شی وي، په بڼه او شکل کې سره توپیر ولري.

ټوکه او کیسۍ

موخه: چې زده کوونکي د ټوکې او کیسۍ په معنا او مطلب پوه شي. ټوکې او کیسۍ سمې ولولي او ویې لیکي.

پوښتنې:

۱. ستاسو په نظر ټوکه او کیسۍ څه ته وايي؟
۲. تاسو کله له چا څخه ټوکې او کیسۍ اورېدلي دي؟
۳. څوک کولی شي چې یوه ټوکه او یا کیسۍ ووايي؟

یو مسافر سړی په ژمي کې له یوه کلي څخه تېرېده. د کلي سپي پرې را ټول شول. کله چې هغه تیږې ته لاس کړ، تیږه په ځمکه کې کلکه نښتې وه مسافر په زوره نارې کړې: دا څنګه کلی دی، چې سپي يې خوشې کړي او تیږې یې تړلي دي؟

کیسۍ

نه ګیدړ دی نه زمری   هسې ښکاري لکه سپی
د پسو او خرو دښمن دی   کوم حیوان د دې وطن دی

ووایئ دا څه شی دی؟   (ل، ی ، و، هـ   )

لغتونه او معناګانې:

ټوکه :	خندا لرونکي خبرې یا فکاهي
نارې :	غږونه

یادونه: کیسۍ د یوې پوښتنې او غوښتنې په توګه په شعر او نثر کې راوړل کېږي او مقابل لوری ځواب وايي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- یو د بل په مرسته د لوست متن په چوپتیا سره ولولئ!
- د مثال په ډول دې څو تنه زده کوونکي یوه یوه کیسۍ په ټولګي کې په لوړ اواز ولولي.

- په خپلو ډلوکې لاندې پوښتنو ته په شفاهي توګه ځوابونه ووایئ!

١. مسافر له کوم ځایه تېرېده؟
٢. د کلي سپي ولې پر مسافر راټول شول؟
٣. مسافر څه شي ته لاس تیټ کړ؟
٤. د کلي په هکله یې د څه شي شکایت وکړ؟

- د لاندې کلمو لپاره دوه معنا ګاني درکړل شوې دي تاسې د کلمو سمه معنا په ګوته کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

الف: تیزې	ډبرې	لوټې
ب: ترخنګ	خواته	مخامخ
ج: نارې	غږونه	خبرې

کورنۍ دنده:

- د ټوکې او کېسۍ متن په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط سره ولیکئ. او هم یوه ټوکه یا یوه کېسۍ له خپلې کورنۍ څخه زده کړئ.

اووم لوست

راځئ چې کتاب ولولو

موخه: زده کوونکي وپوهيږي چې له هر څه نه کتاب ته زياته اړتيا لرو. همدا رنګه د کتاب په ارزښت پوهېدل، په لارښوونو يې عمل کول او ددې متن سم لوستل او سم ليکل دي.

پوښتنې:

۱. کوم ډول کتابونه مو خوښيږي؟

۲. پرته له درسي کتابونو نور کوم کتابونه لولئ؟

۳. ستا سو له نظره د کتاب لوستل څه ګټه لري؟

کتاب ډېر ارزښت ناک شی دی. ځکه چې له لوستلو يې پوهه زده کوو. تاسي پوهېږئ، چې پيسې آخرخلاصېږي. خو د کتاب ګټې د ژوند تر پای پورې نه خلاصېږي. دوستانو! کتاب ولولئ! د کتاب هر توری، هره کلمه او هره جمله د مرغلرو په څېر ارزښت لري.

کتاب موږ ته ګټورې لارښوونې کوي او د ژوند له رازونو څخه مو خبروي.د هر څه په هکله معلومات راکوي. کتاب زموږ فکر په کار اچوي او لوستل يې د فکري ودې او پر مختګ سبب ګرځي، په يوازيتوب کې مو ډېر ښه ملګرى هم دى. د کتاب کلمې او جملې بايد په ډېر غور سره ولولو. په معنا يې وپوهيږو، پند ترې واخلو. په لارښوونو يې عمل وکړو. نو راځئ! چې کتاب ولولو، چې ګټورو لارښوونو او زده کړو په وسيله يې خپل ځان، کورنۍ او د خپل ګران هېواد خلکو ته خدمت وکړو.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- د لوست متن د یو بل په مرسته ولولئ.
- لاندې نیمګړې جملې په قوسونوکې دلیکل شویو مناسبو کلمو له مخې بشپړې کړئ.

- کتاب ډېر ارزښت ناک شی ________. (دی، ده)
- ځکه چې په لوستلو یې ________ زده کوو. (لوست، پوهه)
- دکتاب هر توری، هره کلمه او هره جمله د مرغلرو په څېر ارزښت ________. (لري، ورکوي)

کورنۍ دنده:

- په خپلو کتابچو کې د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ.
- کتاب موږ ___ لارښوونه کوي.
- کتاب زموږ فکر په کار________.
- د کتاب کلمې او جملې باید په ډېر غور سره__________.

اتم لوست

د نی قلم وايي



موخه: د قلم په ارزښت، ګټو او اړتیاو وپوهېدل او د دې لوست سم لوستل او لیکل دي.

پو ښتنې:

۱. تاسې خپلې لیکنې په څه شي کوئ؟

۲. څو ډوله قلمونه پېژنئ نومونه يې واخلئ؟

د نی قلم وايي: زه په بېديا او دښـــتو کې زرغونېږم. کله چې انسان وپېژندم د قلم په نوم يې ياد کړم. زه د پوهانو، عالمانو او ستاسو زده کوونکو د لیکلو وسیله یم. له يو لاس څخه بل لاس ته په درناوي ګرځم. ټول ژوند مې په محبت او عزت کې دی ځکه د پوهې پلويان خپل مطلب، وېناوې او غوښتنې زما په ژبه بيانوي.

لغتونه او معناګانې:

بېديا :	دښتې
پوهان :	عالمان
عزت :	قدر
درمل:	دوا

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلو ګروپونو کې متن ولولئ او بیا له یو بل سره د متن په مطلب خبرې وکړئ. وروسته دې د هر ګروپ یو تن د ټولګي مخې ته راشي او د قلم د ګټو په هکله دې خپل معلومات نورو ته وړاندې کړي.

- له لاندې ګډوډو کلمو څخه په خپلو کتابچو کې بشپړه جمله جوړه کړئ.

– وسیله یم، د لیکلو، او، ستاسو، زه، د پوهانو، عالمانو، زده کوونکو

- لاندې کلمې په څپو واړوئ!

قلم:_ق_لم_ عزت:_______ لیکلو:_________

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې لوستل شوی لوست په ښکلي خط سره ولیکي.

نهم لوست

د پوهولو او را پوهولو لارې چارې

موخه: زده کوونکي د پوهولو او را پوهولو د مهارتونو په ارزښت او لارو چارو وپوهېږي اومتن سم ولولي او سم يې وليکي.

پوښتنې:

١. ستاسو په فکر پوهول او را پوهول څه شي ته وايي؟ خبرې پرې وکړئ!

٢. تاسې خپل مطلب نورو ته څرنګه ورپوهولی شئ؟

پوهونه او را پوهونه په بېلابېلو لارو چارو سره سرته رسېږي.

د دې لپاره چې د دوو انسانانو ترمنځ خبرې اترې په سمه توګه تر سره شي، نو بايد د مفاهمې له بېلابېلو لارو چارو څخه کار واخيستل شي. مفاهمه د ستونزو د حل يوازينۍ لاره ده. د پوهولو او را پوهولو مهارتونه په شفاهي ډول، د تليفون او انټرنېټ په وسيله او همدا رنګه د ليک د ډولونو په توګه تر سره کېږي.

د پوهولو او را پوهولو د اوسنيو وسايلو په وسيله د انسانانو ترمنځ اړيکې ډېرې نژدې شوي او په ډېرو لرو هېوادونو او ځايونو کې انسانان کولی شي چې د اړتيا په وخت کې خپل مطلب او پيغام وليکي او يو بل ته يې واستوي.

لغتونه او معناګانې:

مفاهمه :	يو تربله پوهول را پوهول
اړتيا :	ضرورت
اړوند :	مربوط
اړيکې :	رابطې

دزده کوونکو فعالیتونه :

- د لوست متن یو د بل په مرسته ولولئ. او بیا د مفاهمې د ډولونو په هکله له یو بل سره خبرې وکړئ.
- په خپلو خبرو کې د مفاهمې ګټې بیان کړئ.
- د لاندې جملو تش ځایونه په قوسونو کې د مناسبو کلمو له مخې پـه خپلـو کتابچو کې ډک کړئ!

۱. پوهونه او را پوهونه په بېلابېلو ______ سره سرته رسېږي.
(لارو،طریقو)

۲. ددې لپاره چې د دوو انسانانو ترمنځ مفاهمه په سمه توګه پیل شي، نو باید د لاندې بېلابېلو __________ څخه کار واخیستل شي.
(لاروچارو، ډولونه)

- لاندې کلمو ته پام وکړئ او په تورو یې واړوئ!

الف: پ+ و+ ه + ه+و+ن+ه = پوهونه ب: خــ+ ب+ ر+ي= خبرې

مفاهمه_ انټرنېټ_ تلیفون_ اړتیا

کورنی دنده:

- ګرانو زده کوونکو! د لوستل شوي لوست له مخې څو کلمې وټاکئ او بیا یې په خپلو کتابچو کې په څپو واړوئ.
- څو ډوله مفاهمه مو وپېژنده؟ ځواب یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

د ناروغۍ رقعه

موخه: چې زده کوونکي د ناروغۍ رقعه ولولي، ویې لیکي او د ناروغۍ په وخت کې خپل ښوونځي ته یوه رقعه واستوي. املاء، انشاء او لیک دود زده کړي.

پوښتنې

۱. که چېرې څوک ناروغه شي ښوونځي ته څنګه خبر ورکوي؟
۲. ولې موږ د ناروغۍ رقعه د ښوونځي ادارې ته آستوو؟

د میرویس نیکه د ښوونځي ښاغلی سر ښوونکی صاحب!
زه بریالی د خوشحال زوی، د دریم ټولګي زده کوونکی د ناروغۍ له امله ښوونځي ته د زده کړې لپاره درتلی نه شم. په ډېر درناوي له تاسو څخه هیله لرم چې ما د سوبتیا په کتاب کې ناسوب ونه ګڼئ.

په درناوي

نېټه / /

د زده کوونکي لاسلیک ( )

لغتونه او معناګانې:

سوبتیا :	حاضري
ناسوب :	غیرحاضر

د زده کوونکو فعالیتونه:

- د ناروغۍ رقعه یو له بل سره ولولئ!
- زده کوونکي دې یو بل ته د ناروغۍ رقعه املا ووایي.
- د ناروغۍ رقعه له یاده زده کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

کورنۍ دنده:

– یوه د ناروغۍ رقعه په خپل نوم په خپلو کتابچو کې ولیکئ!

ضروري رقعه

موخه: د ضروري رقعې د ليکنې په هدف او مطلب، وپوهېږي. همدارنګه له ياده يې وليکي

پوښتنې:

۱. تاسو د کوم ضروری کار په پيدا کېدو سره خپل ښوونځي ته څنګه خبر ورکوئ؟
۲. ولې موږ د ضروری رقعه د ښوونځي ادارې ته استوو؟

د رحمان بابا د ښوونځي ښاغلی سرښوونکی صاحب!

زه سورګل د محمد ګل زوی، د دریم ټولګي زده کوونکی نن د يوه ضروري کار له امله، ښوونځي ته د زده کړې لپاره نه شم درتلی. په ډېر درناوي له تاسو څخه هيله لرم، چې د سوبتيا په کتاب کې ناسوب نه شم.

په درناوی

نېټه / /

د زده کوونکي لاسليک ( )

لغتونه او معناګانې:

اړتيا :	ضرورت
هيله :	اميد

د زده کوونکو فعاليتونه:

- زده کوونکي دې له يو بل سره ضروري رقعه ولولي.
- يو بل ته د ضروری رقعه املا وواياست!
- ضروري رقعه له يادو زده کړئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ!

کورنی دنده:

- په خپلو کتابچو کې په خپل نوم ضروري رقعه وليکئ.

دوولسم لوست

د ماشومانو لوبې

موخه: زده کوونکي دې دخپل هېواد ډول ډول لوبې وپېژني. د هغو په ګټو دې پوه شي او د لوست متن دې سم ولولي او سم يې وليکي.

پوښتنې:



۱. په انځورونو کې څه وينئ؟ خبرې پرې وکړئ!

۲. څو ډوله لوبې مو زده دي؟ نومونه يې واخلئ!

۳. لوبې څه ګټې لري؟

ماشومان ډول، ډول لوبې کوي .هغه لوبې، چې ماشومان يې په خپل منځ کې کوي زموږ وطني لوبې دي.دغه لوبې د ګاډۍ چلولو، پټ پټاني يا پټونې، پهلواني، چمبه وهلو، نانځکې کولو، جفت او تاق، ليندۍ ويشتلو، بنګړي مات، ټال اچولـــو، اکوبکو او داسې نورو لوبو څخه عبارت دي. هغه لوبې چې په بدني ډول تر سره کېږي د ماشومانو بدني پياوړتيا ته ګټه رسوي. او هغه لوبې چې په ذهني ډول تر سره کېږي ماشوم دلوبو کولو مهارتونوته هڅوي او روزل کېږي چې په خپله ټولنه کې خپل رول وپېژني، د مثال په توګه: د نانځکو کولو لوبه، زياتره نجونې په خپل منځ کې تر سره کوي، خو کله ښايي واړه هلکان هم په خپلو لوبو کې ګډون ته راوبولي. دوی سيوري ته په يوه ګوښه ځای کې کښيني اوکوره کې جوړوي. وړې توشکې او فرشونه پکې اواروي. بالښتونه يې غاړو ته ږدي او نانځکې پکې کښنوي.د لوبو نور شيان هم د کور په مناسبو ځايونو کې ځای په ځای کوي. نجونې خپلې ډلې په دوو برخو وېشي او په خپل منځ کې د دوو کورنيو په څېر چلند اوتګ راتګ کوي. يوه ډله له بلې

نه د یوې نانځکې غوښتنه کوي، بیا یې واده جوړوي او تردې پورې چې د ناوې د ورړلو دود تر سره کوي. دا لوبه د ماشومانو لپاره ډېره په زړه پورې ده.ځکه چې ماشومان د کورني ژوند لپاره روزل کېږي او خپل رول په ټولنه کې پېژني.

مآخذ: افغان اساسي قابلیتونه، پښتو لپاره د زده کړې لازمي مواد.

لغتونه او معناګانې:

چمبه :	دایره
نانځکې :	ګوډۍ، ناوکې
پیاوړی :	قوي
لوبې :	ساعت تېري
دود :	رسم او رواج

د زده کوونکو فعالیتونه:

- متن په روانه توګه ولولئ او بیا د (چمبه، نانځکې، لوبې) کلمې په څپو واړوئ.
- ووایئ چې د لوست اصلي مطلب څه شی دی؟ سم ځواب ور په ګوته کــړئ. او بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

  الف: د افغاني ماشومانو وطني لوبې دي.

  ب: د نانځکې لوبه ده.

  ج: لوبې او ساعت تېري دي.
- د (چمبه، لوبې، نانځکې) کلمې په لنډو جملو کې وکاروئ.

کورنۍ دنده:

- په خپلوکتابچو کې د لاندې جملو تش ځایونه د چوکاټ په مناسبو کلمو سره ډک کړئ.

فرشونه، لوبه، کوره کی، توشکې، هلکان

دا ______ زیاتره نجونې په خپل منځ کې تــر ســره کــوي خــو کلــه کلــه ښــایي واړه ______هم خپلو لوبو ته را وبولي. دوی سیوري ته پــه یــوه ګوښــه ځــای کــې کــښېني او جوړوي. ورې ______ او ______ په کې اواروي بالښتونه یې غــاړو تــه ږدي او ______ نانځکې پکې کېنوي.

بریالی



موخه: دکیسې، لوستل، لیکل، د ژوند دکړاوونو او سختیو په وړاندې د پیاوړي عزم، د صبر درلودل او د نا امیدۍ څخه د ځان ژغورل دي.

پوښتنې:

۱. تاسې د یوې داسې پېښې کیسه وکړئ چې ځوریدونکې او خپله مو لېدلې وي؟

۲. که چیرې یو معیوب ووینو دخپل وس په اندازې باید ور سره څه وکړو؟

یوې کورنۍ کې یو هلک اوسېده، چې بریالی نومېده. د بریالي کورنۍ ډېره بیوزلې وه. دده کونډې مور به د ګنډلو له لارې خپلو ماشومانو ته ډوډۍ پیدا کوله. د بریالي ماما،اکبر هم دخپلې خور له ستونزو څخه ډېر ځورېده، او له ځان سره به یې ویل:«که د شېلې ځمکه خپلې خورته ورکړم ....؟» اکبر د شېلې ځمکه خپلې خور ته ورکړه بریالی دخپل ماما په دې کار ډېرخوشحاله شو. بریالی او زمری چې سره ورونه وو یوه ورځ دواړه د یوې او غوآیانو د پیداکولو لپاره د ناظر کور ته ورغلل. ناظر د جبار خان غوایان دوی ته امانت ورکړل.دواړه ورونه د شیلې د ځمکې په لور روان شول.بریالی او زمری په لاره روان وو چې خیر محمد اکا یې په مخه ورغی او هغوی ته یې داسې وویل :« په دې لاره مه ځئ چې د ماین خطر په کې دی.» بریالي د خیر محمد اکا خبره ونه منله زمري هم د اکا خبره بریالي ته

تکرار کړه، خو بریالی په قهر شو او زمری یې کورته ولېږه. بریالی یوازې د شبلې د څمکې خواته لاړ. هلته لانه ورسیدلی چې د ماین د چاودنې سره ټپي شو د کلي خلک چې خبر شول. ټول د بریالي مرستې ته را ورسېدل او هغه یې روغتون ته بوت. ډېر سخت ټپي شوی و.
ډاکتر وویل:« چې ده ته وینه په کار ده ». هیچا هغه ته وینه نه ورکوله.
د بریالي مور حېرانه وه چې څه وکړي؟ کریم چې د بریالي له نږدې خپلوانو څخه و، بریالي ته یې خپله وینه ورکړه او له مرګ څخه وژغورل شو خو یوه پښه یې پرې شوه. د پښې پرې کیدو بریالی له ژوند څخه نا هیلي کړ.د هغه ناامیدۍ ټوله کورنۍ خواشینې کړې وه. مور یې ماما ته وویل:« چې وروره! بریالی به له دې نا امیدۍ څخه وژغورل شي؟» هغه به ورته ډاډ ورکاوه. یوه ورځ یې ماما بریالی له معیوبینو سره د مرستې مرکز ته بوت او مصنوعي پښه یې ورته جوړه کړله. هغه اوس کولی شي چې په لاره وګرځي. خو سره له دې هم ځوریده او خپل ځان ورته نیمګړی ښکارېده. دی له وزګارتیا څخه ډېر زړه تنګی شوی و. زمري ورور یې ، دی له یوه ګنډونکي سره شاګرد کړ. له څه مودې وروسته بریالي ګنډل زده کړل. چې له دغې دندې سره یې بیا په خوشحالۍ خپل ژوند کاوه.

لغتونه او معناګانې:

بېوزلي :	غریبي
بیړه :	چابکي
مرستې :	کومکونه
ټپي :	زخمي یا ژوبل
خواشینی :	خپه
شبلۍ :	دخوړ هغه ځای چې سېلابونه پکې تېرېږي

د زده کوونکو فعالیتونه:

لاندې پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ!

۱. د بریالي کورنۍ له کومې لارې څخه ژوند کاوه؟

۲. اکبر څوک و او ولې یې د بریالي له کورنۍ سره مرسته وکړه؟

۳. خیر محمد اکا زمري او بریالي ته څه وویل؟

۴. د شیلې ځمکې سره نژدې څه پیښه وشوه؟

۵. د ماین چاودنې له پیښې وروسته بریالی ولې ځوریده؟

۶. بریالي څه شی زده کړل؟

۷. بریالی اوس څه کار کوي؟

- زده کوونکي دې د کیسې د مطلب په هکله له یو بل سره خبرې وکړي او بیا دې د هرې ډلې یو تن راشي او د بریالي کیسه دې په لنډه توګه نورو ته ووایي.

دا لاندې کلمې او معناګانې په کتابچو کې ولیکئ او په جملو کې یې وکاروئ.

الف: عیبي، معیوب، عیب لرونکی

ب:ستونزې، مشکلات

ج: بیړه، عجله

د: ټپي، زخمي

کورنۍ دنده:

-زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه د قوسونو په مناسبو کلمو سره په خپلو کتابچو کې ډک کړي.

الف: دا هلک معیوب ________. (دی، دي)

ب:هغه هلکان معیوب________. (دي، دی)

ج: دا نجلۍ معیوبه_________. (ده، دی)

خوارلسم لوست

د مور او پلار حقونه

موخه: دپلار او مورپه حقونو پوهېدل، له هغوی سره نیکي کول، له مفردو کلمو څخه د جمعو کلمو جوړول او د متن سم لوستل او سم لیکل دي.

پوښتنې:

۱. مورِ ولې د مور او پلار خدمت کوو؟
۲. تاسې له مور او پلار سره په کارونو کې څه ډول مرسته کوئ؟

د مور او پلار کلمې ډېرې خوږې دي. د مور او پلار درناوی او له دوی سره نیکي کول، د مسلمانۍ له ښو اخلاقو څخه دي. خدای(ج) فرمایلي دي: « تاسو د مور او پلار په مخ کې (اف) هم مه وایاست. چې زړه یې له تاسو څخه نا راضه او خپه نشي.» کله چې د مور او پلار په مخ کې (اُف) ویل هم لازم نه وي نومورِ باید له هغو ټولو چارو څخه ځان وساتو، چې د دوی د خپګان سبب کېږي. له مور او پلار سره باید په ډېرې نرمۍ او ادب خبرې وکړو، همدا راز رسول الله (ص) د مور او پلار په اړه داسې فرمایي:« دالله(ج) رضا د مور او پلار په رضا کې ده » یعنې که له چا څخه مور او پلار خوښ او خوشحاله وي الله (ج) به هم ور څخه خوښ او راضي وي خو که له چا څخه مور او پلار نا راضه وي، الله (ج) به هم ور څخه ناراضه وي، نو غوره دا ده چې مورِ د مور او پلار سره ښه چلند وکړو. په مینه اواحترام د هغوی خدمت وکړو او تل یې دعا واخلو چې نیکمرغي مو په برخه شي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلو ګروپونو کې له يو بل سره د مور او پلار د حقونو په هکلــه خبــرې وکړئ او بيا دې د هر ګروپ يو تن د ټولګي مخې ته راشي اوپــه دې هکلــه چې په کور کې له مور اوپلار سره کومې مرستې کوي خبرې وکړي.

- د لاندې جملو تش ځايونه په مناسبو کلمو سره په خپلو کتابچو کــې ډک کړئ.

– خدای(ج) فرمايلي دي: تاسو د مور او پلار په مخ کې (اُف) هم ________.
(مه وآياست، مه باسئ)

– د الله(ج) رضا د مور او پلار په رضا کې ___ . (ده، دی)

- زده کوونکي دې په ګروپونو وويشل شي او د چوکاټ کلمې دې پــه خپلو کتابچو کې هيجا کړي.

نېکي، نې + کي
پلار
درناوی
آزار
مرسته

کورنۍ دنده:

– د مور او پلار د حقونو په هکله دوه لنډې جملې په خپلو کتابچو کې وليکئ!

پنځلسم لوست

د مور ورځ

موخه: د مور د ورځې د لمانځلو په هکله معلومات ورکول ، د مفرد او جمع کلمو پېژندل او ددې متن سم لوستل او سم ليکل دي.

پو ښتنې:

۱. د مور د لمانځلو د ورځې په هکله څه ويلی شئ؟
۲. آيا تاسو کله د مور ورځ لمانځلې ده؟ که مو لمانځلې وي په څه ډول؟
۳. تاسې د مور د لمانځلو په ورځ خپلې مور ته څه شی اخلئ؟

افسانه او زلمی خور او ورور دي. دواړه په دريم ټولګي کې زده کړه کوي. دوی چې کله ښوونځي ته ځي، پلار يې هغوی ته دوې دوې افغانۍ ورکوي. زلمي خپلې پيسې لګولې، خو افسانې يوه افغانۍ لګوله او يوه افغانۍ يې ساتله. کله چې د مور ورځ رانژدې شوه، افسانې خپلې مورته يوه ښايسته د ګلانو ګېډۍ د ګلانو له پلورنځي څخه واخېسته او ددې ورځې په نمانځلو کې يې خپلې مور ته ډالۍ کړه. بيا يې خپلې مورته د دغې ورځې مبارکي وويله او د مور لاسونه يې ښکل کړل. مور يې د افسانې مخ ښکل کړ او خوشحاله شوه. زلمي چې پيسې لګولې وې او خپلې مور ته يې هېڅ هم نه و اخيستي، پر خپلو کړو ډېر پښېمانه و. پرېکړه يې وکړه، چې نور به هېڅکله بې ځايه پيسې نه لګوي.

لغتونه او معناګانې:

ښايسته : ښکلې	ښکل : مچې
ګېډۍ : کوډه	پرېکړه : فيصله
ډالۍ : تحفه	

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلو ګروپونو کې د مور د ورځې د لمانځلو په اړه له یو بل سره خبرې وکړئ او بیا د هر ګروپ یو تن د ټولګي مخې ته راشئ او په دې هکله خپل معلومات نورو ته وړاندې کړئ.
- د چوکاټ د مفردو کلمو سره د جمع کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

مفرد	جمع
مور	میندې
ورځ	
خور	
ورور	
مخ	

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د (مور،خور، ورور، ورځ) کلمې ولیکي او بیا دې په لنډو جملو کې وکاروي.

شپاړسم لوست

د لیک او لوست ارزښت

موخه: د لیک او لوست په ارزښت پوهېدل اوهم وپوهیږي چې لیک او لوست د ژوند له لومړنیو اړتیاوو څخه دی. همدا رنګه په لوست کې د مترادفو کلمو په نښه کول او لوستل دي.

پوښتنې:

١. د لیک او لوست زده کړه څه ګټې لري؟
٢. لیک او لوست ولې او څه ارزښت لري؟
٣. مورږ ولې لیک اولوست زده کوو؟

جبار خان به تل د لیک او لوست د زده کړې مخالفت کاوه، خپله لـــور سپوږمۍ یې ښوونځي ته هم نه پرېښوده. یوه ورځ جبار خان او دهغه زوی ایمل د چکر وهلو شوق وکړ. دواړه په آس سپاره شول او چکر وهلو ته ووتل. ایمل قلم او کاغذ هم له ځانه سره واخیستل. جبار خان او ایمل دواړه له خپل کلي څخه لیرې په یوې هدیره کې له آس نه لاندې وغورځېدل. د جبار خان پښه ژوبله شوه او په لاره تلی نه شو. د ماښام تیاره ورو، ورو خورېده. جبار خان هک پک و چې څه وکړي. ایمل خپل پلار ته وویل: « چې هېڅ اندېښنه مه کوه زه به کور ته لیک ولیکم » ایمل یو لیک لیکي. د آس په تندي یې ځړوي او آس کور ته لیږي، سپوږمۍ چې په کور کې د آس په تندي لیکویني. سمدلاسه یې اخلي او هغه خپلې کورنۍ ته لولي. کورنۍ یې د کلي خلک خبروي. کلیوال ورځي او هغوی ژغوري. جبار خان له دې پېښې څخه وروسته وغوښتل چې ایمل ته سوغات ورکړي، خو ایمل د سوغات پر ځای د خپلې خور سپوږمۍ ښوونځي ته بیرتـــه شاملېدل غواړي. جبار خان چې دلیک اولوست ارزښت په سترګو ولیده نو خپلې لور ته یې د ښوونځي د بیر ته شاملېدو اجازه ورکړه سپوږمۍ له خپل پلار نه ډېره خوشحاله شوه.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- لوست په لوړ آواز ولولئ او په خپلو ګروپونو کې د لوست د مطلب په هکله له یو بل سره خبرې وکړئ او بیا دې د هر ګروپ یو تن د ټولګي مخې ته راشـــي او د لوست په مطلب دې خبرې وکړي.

- لاندې مترادفې کلمې د کرښې په وسیله سره په خپلو کتابچو کې ونښلوئ.

تل	بچېدل
سوغات	زخمي
ژوبله	تحفه
ژغورل	همېشه

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه په مناسبو کلمو سره په خپلو کتابچو کې ډک کړي.

الف: جبار خان اکا تل د لیک او لوست د زده کړې __________.

ب: دوی له خپل کلي څخه لېرې په هدیره کې له آس نه لاندې ________.

ج: جبار خان اکا له دې پېښې څخه وروسته خپلـــې لـــور________ تـــه د ښوونځي د تلو ______ ورکړه.

نظم

چې د غره په څوکه لمر شي راښکاره
لوی واړه يې شي د مخ په ننداره

موخه: د نظم پېژندل، د نظم لوستل او ليکل دي.

پوښتنې:

۱. د پورتني چوکاټ په منځ کې څه ليکل شوي دي؟ څوک يې لولي؟
۲. تاسې نظم پېژنئ؟

نظم: هغه وينا او ليکنه ده چې وزن او وزن لرونکې کلمې ولري. نظم له يوه بيت، دوو بيتونو او يا زياتو بيتونو څخه جوړېږي. لکه لاندې:

څلوريزه:

چې د غره په څوکه لمر شي راښکاره
لوی واړه يې شي د مخ په ننداره
ماشومان ژر روانېږي ښوونځي ته
هر څوک خپل کار پسې درومي دوباره

خو دا څلور بيته نظم دی:

سوله

ته کوتره يې د سولې — بشر سولې ته رابولې
تل د سولې نښانه يې — د ژوند لوړه ترانه يې
په هر چا باندې يې ګرانه — ټول خوښي غواړي له تانه
سر لوړې د ټول جهان يې — د انسان د ژوند ارمان يې

کارګر

بيت: د نظم هغه برخه چې له دوو مصرعو څخه جوړه شوې وي.

لغتونه او معناګانې:

سوله : روغه جوړه ارمان : هیله، امید

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې لوستل شوی نظم له یو بل سره ولولي.
- په ګروپېزه توګه په نظمونوکې همو‌زنه کلمې پیدا کړئ او بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.
- زده کوونکي دې له یو بل سره د نظم په مفهوم او معنا خبرې وکړي او نظمونه دې په یاد زده کړي.

کورنۍ دنده:

ګرانو زده کوونکو!

– لوستل شوي نظمونه په یاد زده کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

اتلسم لوست

ځانځاني

موخه: د شعرلوستل، لیکل، د ځانځاني په مفهوم او د هغه په زیانونو پوهېدل او په شعر کې د متضادو کلمو پېژندل دي.

پوښتنې:

١. انځور ته وګورئ او خبرې پرې وکړئ!

٢. ویلی شئ چې ځانځاني څه ته وایي؟

٣. ځانځاني ولې ښه کار نه دی؟

دوې مرغۍ مې ولیدلې — په خپل منځ کې چغېدلې

چغو پغ یې سره تود شو — یو له بله نږدې شولې

آخر دواړو جنګ شروع کړ — پښې پنجې یې لګولې

کولوله لکه پنډوسکې — پاس په ځمکه ولوېدلې

پیشو غلې هلته ناسته — دواړه یې غبرګې ونیولې

غلیم دواړه ځانځانۍ کې — په مزه مزه خوړلې

ځانځاني د ځان بلا ده

دا خبره ما منلې

روغمن

لغتونه او معناګانې

ځانځاني : ځان ستاينه يا خود خواهي	غلې : آرامه
جنګ : جګړه	غليم : دښمن

د زده کوونکو فعاليتونه:

- نظم ولولئ او په خپلو ګروپونو کې د شعر د مطلب په هکله خبرې وکړئ. او بيا دې د هر ګروپ يو تن د ټولګي مخې ته راشي د شعر مطلب دې نورو ته څرګند کړي.
- لاندې کلمو ته متضادې کلمې له چوکاټ څخه وټاکئ او د کلمو تر څنګه يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ليرې، لاندې، دلته، دوست، يووالی

الف: جنګ سوله ب: نږدې______ ج:پاس______

د:هلته______ هـ: غليم______ و:ځانځاني______

کورنی دنده:

- زده کوونکي دې د مرغۍ، جنګ، ځانځاني او پيشو له کلمو څخه په خپلو کتابچو کې جملې جوړې کړي.

نولسم لوست

هوښیاره نجلۍ



موخه: د مرستې په ارزښت پوهېدل، له بې وزلو او سپین ږیرو سره مرسته کول او د دغه متن لوستل او لیکل دي.

پوښتنې:

۱. که یو سپین ږیری او یا کوم معیوب غواړي چې د سړک څخه تېر شي تاسې له هغوی سره څه کولی شئ؟

۲. ستاسو په نظر له سپین ږیرو او معیوبو خلکو سره مرسته کول څه ډول کار دی؟

صابره چې په دریم ټولګي کې زده کړه کوي. یوه ورځ چې د ښوونځي په لور روانه وه، یو سپین ږیری یې ولید، چې د سړک په خوا کې ولاړ دی. غوښتل یې له سړک نه تېر شي، خو په سړک د موټرو او بایسکلونو د تګ راتګ له امله نه شو تېریدی. د صابرې چې ورته پام شو، ژر یې ځان سپین ږیري ته ور ورساوه، هغه یې د لاسه ونیو او د سړک څخه یې تېر کړ. سپین ږیری له صابرې څخه ډېر خوشحال شو او ورته یې وویل: «لورې! پاک خدای (ج) دې همېشه بریالۍ لره.»

لغتونه او معناګانې:

سپین ږیری	زوړ، د زیات عمر خاوند
همېشه	تل
بریالی	کامیابه

د زده کوونکو فعالیتونه:

- لوست په لوړ آواز ولولئ!
- زده کوونکي دې په ګروپونو کې د مرستې په هکله له یو بل سره خبرې وکړي بیا دې د هر ګروپ یو تن د ټولګي مخې ته راشي او د لوست مطلب دې په لنډه توګه نورو ته ووایي.
- لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او تش ځایونه یې په مناسبو کلمو سره ډک کړئ!

صابره چې په _________ ټولګي کې زده کړه کوي.

یو سپین ږیری سړی یې ولید چې _________ په خوا کې ولاړ دی.

غوښتل یې چې د سړک څخه _________ شي.

دصابرې چې ورته پام شو ژر یې ځان وروررساوه _________ یې دلاسه ونیو او د سړک څخه یې تېر کړ.

کورنۍ دنده:

- په خپلو کتابچو کې د (مرسته، سپین ږیری، سړک) کلمې په لنډو جملو کې وکاروئ.

د کور په کارونو کې مرسته

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، په متن کې د نومونو پېژندل او د مرستې په ارزښت او ګټو پوهېدل او له خپلې کورنۍ سره په چارو کې مرسته کول دي.

پوښتنې:

۱. تاسې له مور او پلار سره په کارونو کې څه ډول مرستې کوئ؟

۲. ستاسو په نظر مرسته او همکاري څه ګټې لري؟

زرغونه د احمد خور ده. دوی چې یوه ورځ له ښوونځي نه کورته راغلل، ګوري چې مور او پلار یې په کور کې نشته. احمد، زرغونې ته وویل: « هو! مور او پلار مو حتمي د غنمو لو ته تللي دي.» زرغونې وویل: « ډوډۍ به وخورو، زه او ته به هم ور پسې د غنمو لو ته لاړ شو او هلته به د مورجانې او پلار جان سره مرسته وکړو.» احمد وویل: « ډېره ښه خبره دې وکړه لاړ به شو.» زرغونه او احمد د ډوډۍ له خوړلو وروسته د غنمو پټیو ته لاړل. ګوري چې پلار یې لو کوي او مور یې د غنمو وږي ټولوي. خور او ورور هم لستوڼي بډ وهل، او د غنمو د وږو په ټولولو یې پیل وکړ. پلار او مور یې په دې کار ډېر خوښ شول. سربېره پردې چې له خپل کار نه یې د ستړیا احساس ونه کړ. په خپل ګډ کار سره یې د غنمو لو په ښه توګه پای ته ورساوه. ښه زده کوونکي تل له مور او پلار سره په کارونو کې برخه اخلي او له هغوی سره مرسته کوي.

لغتونه او معناګاني:

مرسته : کومک
ګډه : يوځای
لو : رېبل

دزده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې د لوست متن په چوپتيا سره ولولي.
- څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او د لوست مطلب دې د کیسې په توګه نورو ته ووايي.او هم دې له خپلې کورنۍ سره د مرستې کولو خبرې وکړي.
- د چوکاټ له تورو څخه په خپلو کتابچو کې په عمودي او افقي توګه کلمې جوړې کړئ.

				م
ل	ل	غ	ا	ر
		ن		س
		م		ت
		و		ه

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچوکې دلاندې جملو تش ځايونه د قوسونو په مناسبو کلمو سره ډک کړي.

۱. زرغونه د احمد _______ ده. (خور، وريره)
۲. دوی چې يوه ورځ د _________ څخه کور ته راغلل. (ښوونځي، ټولګي)
۳. زرغونې وويل، ډوډۍ به وخورو، زه او ته به هم ورپسې د _______ لو ته ولاړ شو. (غنمو، جوارو)

خواخوږي

موخه: د متن سم لوستل ، ليكل او د خواخوږي په معنا پوهېدل او لــه نــورو ســره د خواخوږي درلودل دي.

پوښتنې:

۱.كه څوک له يوې پېښې سره مخامخ شي تاسې له هغه سره څه كوئ؟

۲.آيا كوم وخت مو له چا سره خواخوږي كړې ده؟

يوه ورځ اجمل د ښوونځي په لور روان و. په لاره يې يو پنځه كلــن هلک وليد، چې ناڅاپه يې په زړه كې څه وګرځېدل او په ځغاسته شو. خوځو ګامه لانه و تللی، چې پښه يې له ډبرې سره ونښته، په ځمكه ولويد او په ژړا شو.

اجمل چې د هغه لويدلو او ژړا ته پام شو. زړه يې پرې وسوځيد. خپل لاسي بكس يې په ځمكه كېښود. هغه يې له ځمكې څخه راپورته كړ. كالي يې په كرار سره وروڅنډل. څرنګه چې هغه په زوره لويدلی و، لاسونه او ځنګنونه يې ژوبل شوي وو، له ډېر درد او سوي څخه يې ژړل. اجمل د لاسونو څخه ونيو او په ډېره مينه يې ورته وويل: خير دی وروورجانه مه ژاړه! لاسونه او ځنګنونه به دې ښه شي! بيا يې اوښكې ور پاكې كړې. كوچنی هلک چې د اجمل مهرباني او خواخوږي وليــده خپل درد يې هېر كړ. او له اجمل څخه يې مننه وكړه.

لغتونه او معناګانې:

خواخوږي :	همدردي، زړه خوږي
منته :	کور ودانی
ځنډېل :	ټکان ورکول
ناڅاپه :	بې خبره
ځغاسته :	منډه

دزده کوونکو فعالیتونه:

◆ د لاندې کلمو سمه معنا د چوکاټ څخه وټاکئ او د کلمو تر څنګه یې په کتابچو کې ولیکئ.

منډه– ژوبل –زیات– تیرېږ– وړوکی

ځغاسته:______ ډېرې:______ زخمي:______ ډېر:______ کوچنی:______

◆ د لوست د متن په اړه له یو بل سره خبرې وکړئ او بیا څو زده کـــوونکي د لوست د مطلب په اړه خپل معلومات وړاندې کړئ.

◆ دوه دوه زده کوونکي دې د تختې مخې ته راشي یو بل ته دې د لوست له مخې املا ووایي.

کورنۍ دنده:

– لاندې کلمې لومړی په کتابچو کې ولیکئ بیـــا د هـــرې کلمـــې تـــوري وشمیرئ. او د کرښو لاندې یې ولیکئ.

اجمل ، روان ، هلک ، څمکه ، ژړا ، لاسونه
۴

نثر

موخه: د نثر پېژندل، د نظم سره د هغه توپیر، لوستل او لیکل دي.

پو ښتنې:

۱. تاسې نثر پېژنئ؟

۲. ستاسو په نظر نثر څه ته وايي؟

نثر څه ته وايي؟ نثر هغه وینا او لیکنې ته وايي چې وزن لرونکی کلمې و نه لري. لکه زموږ ورځنی خبرې اترې.

یوه ورځ یو سړی ډاکټر ته ورغی، ویې ویل: ګېډه مې خوږېږي، ډاکټر وویل:« نن دې څه خوړلي دي؟» ناروغ وویل: « سوې ډوډۍ مې خوړلې وه.» ډاکټر ورته د سترګو درمل ورکړ. ناروغ پوښتنه وکړه: زما خو ګېډه درد کوي تا ولې د سترګو درمل راکړ؟ ډاکټر وویل: «که چېرې ستا سترګې روغې وای نو تا به هېڅکله سوې ډوډۍ نه خوړه.»

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې یو د بل په مرسته لوستل شوی متن ولولي.
- زده کوونکي دې د نثر لنډ تعریف په یاد زده کړي.
- زده کوونکي دې یوبل ته د متن له مخې املا ووایي.
- زده کوونکي دې د نثر او نظم ترمنځ توپیر بیان کړي.

کور نۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې لاندې جملې ولیکي او تـــش ځایونه دې په مناسبو کلمو سره ډک کړي.

یوه ورځ یو سړی ________ ته ولاړ او ویې ویل، ګېډه مې خوږېږي.

ډاکټر وویل، نن دې څه ________ دي؟

ناروغ وویل، ________ډوډۍ مې خوړلې ده.

ډاکټرورته د ________ درمل ورکړ.

ناروغ پوښتنه وکړه. زما خوګېډه دردکوي تا ولې د سترګو______ راکړه؟

ډاکټر وویل، کــه چېرې ستا سترګې روغې وای نو تا به هــېڅکله

سوې ډوډۍ ________.

درویشتم لوست

مکرجنه ګیدړه او ناپوه چرګ

موخه: زده کوونکي دې لوست ولولي، سم دې يې وليکي او په دې پوه شي چې مکر او فريب ښه کارونه نه دي او بايد څوک پرې ونه غولېږي.

پو ښتنې:

۱. په پورتني انځور کې څه وينئ؟

۲. تاسو ګيدړه ليدلې ده؟ خبرې پرې وکړئ!

۳. په تېر کال کې مو کوم ژوي او مرغان وپېژندل نومونه يې واخلئ؟

يوه ورځ د يوه کلي تر څنګ ګيدړه روانه وه، يو چرګ يې د ونې په ښاخ وليد، سمدلاسه ودرېده او په ډېر مکر يې د چرګ درناوی وکړ او ورته يې وويل: زه ستاپلار او ټول قوم پېژنم، پلار به دې په ډېر خواږه غږ آذان کاوه چې په نړۍ کې دغه شان خوږ آذان د بل چا نه و.

که چېرې ته هم يو وار بانګ وکړې او کاشکې! ستاآواز هم ستا د پلار په شان خوږ وي. چرګ د ګيدړې په دې مکر وغولېده آذان يې وکړ. ناڅاپه ګيدړې پرې ور ټوپ کړ او چرګ يې ونيوه چرګ د خپلې ناپوهۍ له امله دګيدړې ښکار شو.

لغتونه او معناګانې

مکر :	چل او فریب
کاشکې :	افسوس
نړۍ :	جهان

کیسه

ځناور دی وېـــروونـــکی   د چرګانو غـــلا کـــوونکی
ډېر له سپو نه ډارېدونکی   څوک د دې دی، پېژندونکی؟

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې لوست په لوړ آواز ولولي.
- زده کوونکي دې لاندې کلمې په څپو واړوي.

نړۍ: نــ ـــ ـړۍ

درناوی __________ شان __________ آذان __________

ناپوهي __________ ګېډړه __________

- کیسه ولولئ بیا یې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ!

کور نۍ دنده:

- لوستل شوی متن په خپلو کتابچو کې په ښکلي خط ولیکئ.

ماینونه



موخه: د ماینونو پېژندل ، د هغو له خطرونو څخه خبرېدل او ځان د ساتلو په لارو چارو پوهېدل او د دې متن لوستل او لیکل دي.

پوښتنې:

۱. تاسي ماین پېژنئ؟ ۲. هغه ولې خطر لري؟

۳. تاسي څوک لیدلي چې د ماین له چاودنې څخه معیوب او یا مړ شوی وي؟

ماین د خلکو پټ دښمن دی. له بده مرغه زموږ په ګران هېواد کې ډېر ماینونه تر ځمکې لاندې ښخ پاتې دي. دا ماینونه په تېرو جګړو کــې ځای په ځای شوي دي. ماینونه بېلابېل ډولونه لري . ځینې یې د موټرو او ټانکونو پر ضد او ځینې یې هم د انسانانود تباهۍ لپاره دي. زموږ په هېواد کې زیات شمېر خلک د ماین د چاودنې په واسطه معیوب او یا هم وژل شوي. ماینونه د لوبو د سامان په بڼه هم په ځینو ځایونو کې تیت او خواره شوي او که څوک لاس ور وړي نو هغه چوي، سړی معیوب اوعیبي کوي او یا یې هم وژني. یو شمېر هغه ځایونه چې ماینونه په کې شته، د ماین پاکانو له خوا په نښنه شوي دي، نو خلکو ته په کار دي. هغه ځایونه چې په سره رنګ سره په نښنه شوي دي په پام کــې

وساتي،اوهلته تګ او راتګ ونه کړي چې خطر لري.او موږ زده کوونکو ته لازمه ده چې له دې ډول ځایونو څخه ځان لېرې وساتو.

لغتونه او معناګاني:

پټ :	ناڅرګند
بده مرغه :	بدبخته
ماین :	چاودېدونکي شیان

د زده کوونکو فعالیتونه:

- د هرې ډلې څخه دې یو یو زده کوونکی د ټولګي مخې ته راشي او لوست دې په لوړ آواز ولولي.
- د لاندې چوکاټ متضادې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او بیا یې د کرښې په واسطې سره ونښلوئ.

پټ	لېرې
دښمن	دلته
هلته	دوست
ډېر	ښکاره

کورنۍ دنده:

- لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ اوتش ځایونه یې په مناسبو کلمو سره ډک کړئ.

الف: ماین د خلکو پټ دښمن_______.(دی، ده)

ب:زموږ په هېواد کې ډېر ماینونه تر ځمکې لاندې ښخ پاتې ______.(دي، وي)

پنځه ویشتم لوست

ترافیکي لارښوونې



موخه: د ترافیکي اشارو پېژندل، په ارزښت او اړتیا یې پوهېدل او د متن لوستل او لیکل دي.

پوښتنې:

۱. په پورتنیو انځورونو کې څه وینئ؟ خبرې پرې وکړئ!

۲. که وغواړئ له سړک څخه تېر شئ باید څه شی په پام کې ونیسئ؟

ګرانو زده کوونکو! هر کله چې تاسې ښار، بازار، او یا نورو ځایونو ته غواړئ لاړ شئ پام وکړئ! چې هلته ډېر موټرونه او بایسکلونه هرې خواته تګ او راتګ کوي. نو په کار ده چې هېڅ وخت د سړکونو په منځ کې تګ او راتګ ونه کړئ، چې دا کار خطر لري. کیدی شي چې خدای مه کړه موټر مو ووهي. همدا رنګه کله چې د سړک له یوې خوا څخه بلې خوا ته تېرېږئ لومړی باید د سړک دواړو خواووته وګورئ، چې موټر او نور وسایل نه وي. بیا په احتیاط او پوره پاملرنې له سړک څخه تېر شئ. همدا راز ماشومانو ته لازمه ده، چې د سړکونو څخه د تېریدلو په وخت کې د ترافیک څخه مرسته وغواړي. د سړکونو په غاړوکې ځینې نښې شته، چې هره نښه یې د لارویو او موټر چلوونکو لپاره ښه اوځانګړې لارښوونه ده. دا نښې د ترافیکي نښوپه نامه یادېږي.

ځينې ترافيکي نښې دادي:



سور څراغ

شين څراغ

ژېړ څراغ

له سړک څخه د تېرېدو نښه

دپام کولو نښه

د نه تم کېدو نښه

د بس د تم ځای نښه

د موټرو د تم ځای نښه

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې لوست په لوړ آواز ولولي.
- زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې د ترافيکي اشارو د ګټو په هکله له يو بل سره خبرې وکړي او بيا دې د هر ګروپ يو کس د ټولګي مخې ته راشي د ترافيکي اشارو په هکله دې نورو ته معلومات ورکړي.
- په خپلو کتابچو کې د لاندې چوکاټ انځور او نښې وکاږئ او بيا يې نومونه له مناسبو انځورونو سره د کرښې په واسطه ونښلوئ؟



کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې د سور، شين او زېړ کلمې په لنډو جملو کې وکاروي.

رښتیا ویل

موخه: زده کوونکي د رښتیا په ارزښت او ګټو پوه او رښتیا ویل د ځان عادت وګرځوي. د دروغو په زیانونو باندې هم وپوهېږي.

پوښتنې:

۱. آیا رښتیا ویل ښه او غوره کار دی؟
۲. تاسو پوهېږئ رښتیا ویونکوته خلک په کومه سترګه ګوري؟
۳. خلک ولې د دروغجن سړي په خبرو باندې باور نه کوي؟

هغه څه چې په خلکو کې د انسان عزت او اعتبار ساتي، هغه رښتیا ویل او له دروغو څخه ډه کول دي. لکه چې وايي هر اوم شی پخېږي، خوانسان چې خام شي بیا نه پخېږي. دلته د انسان له خامی څخه مطلب دروغ ویل او دخلکو نه باوردی.که څوک یو ځل په دروغومشهور شو، نود هغه بیا رښتیا خبرې هم څوک نه مني او باور ورباندې نه کوي. څه ښه وايي چې د مرغلرې یو آب دی او چې آب ترې توې شي بیا هېڅ ارزښت نه لري. د انسانانو عزت او درناوی هم دهغو په ښو او لوړو کړو وړو کې دی. په دروغو سره یې لکه د مرغلرې آب توییږي.

د دروغجن سړي په مینه او دوستۍ هم څوک باور نه کوي. همدغه سبب دی چې دروغجن سړی دوست نه شي پیدا کولی. وګورئ دیوه چرګ په بانګ باندې خلک له خوبه را پاڅېږي او باور ورباندې کوي، خو د دروغجن سړي په لوړه او قول څوک باور نه کوي. نو ویلی شو چې دروغجن سړی په ټولنه کې هېڅ قدر او اعتبار نه لري.دروغ ویل ډېر ژر څرګندیږي.

په دې اړه یو متل دی چې (د دروغو مزل لنډ دی). که څوک غواړي چې په ژوند کې بریالی شي، خلک ورباندې باور ولري، نو په کارده چې تل رښتیا ووایي او ځان په رښتیا ویلو عادت کړي.

نوګرانو زده کوونکو! تاسو هم تل له خپلې کورنۍ او نورو ټولو خلکو سره رښتیا وایاست او رښتینی چلند وکړئ. چې د خلکو د اعتبار وړ وګرځئ.

لغتونه او معناګانې:

خام :	اومه
ډډه :	ځان ساتل
څرګندېږي :	معلومېږي

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې د لوست متن په لوړ آواز ولولي.
- د لاندې چوکاټ له کلمو څخه د جملو تش ځایونه ډک او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

اعتبار،   دي،   نه‌مني،   مرغلره

- هغه څه چې په خلکو کې د انسان عزت او _______ ساتي، هغه رښتیا ویل او له دروغو څخه دځان ساتل _______.
- که څوک یو ځل په دروغو مشهور شو، د هغه رښتیا خبره هم بیا څوک _______.
- خبره او وینا هم لکه _________ ده.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې په لنډو جملوکې وکاروي.

(اومه،   ارزښت،   رښتیا)

روغتيا

موخه: چې زده کوونکي د روغتیا ساتنې په ګټو او ارزښتونو پوه شي. خپل بدن پاک وساتي او د دې شعر د لوستلو او لیکلو مهارتونه تر لاسه کړي.

پوښتنې:

۱. د تاسو په فکر که څوک خپل بدن تل پاک وساتي د هغه روغتیا به څرنګه وي؟
۲. د روغتیا دساتنې په برخه کې موږ باید څه وکړو؟
۳. که چیرې خپلې روغتیا ته پاملرنه ونه کړو څه به پیښ شي؟

زمــا روغتیا خوښه ده
لوبې مستي کـــومـــه
ځکه ځان پاک ساتمه
ځان له مچانو ساتـــم
مچ مېکروبونه راوړي
ځکه خوشحاله یـــمه

تازه هوا خـــوښه ده
زما ښکلا خوښه ده
حد د خوراک ساتمه
ځان له بـــدانو ساتم
ځان له ټـــګانو ساتم
خلاص له جنجاله یمه

ارواښاد غلام حضرت روغمن

د زده کوونکو فعالیتونه:

- لوست یو د بل په مرسته ولولئ!
- زده کوونکي دې دخپل ځان د پاکوالي په اړه په وار سره خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې (د روغتیا، هوا، ښکلا، پاک، خوراک، خوشحاله)کلمې په خپلو کتابچو کې په تورو باندې واړوي.

لکه ر ـ و ـ غ ـ ت ـ ی ـ ا (روغتیا)

کورنۍ دنده:

– زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې لاندې کلموته لنډې جملې جوړې کړي.
– روغتیا– هوا – پاک

اته ویشتم لوست

د چاپېریال د پاکوالي ساتنه



موخه: د خځلو د ځای پېژندل، د نویو کلمو په معنا پوهېدل اوددغه متن سم لوستل اوسم لیکل دي.

پوښتنې:

۱. ستاسو په نظر که د خوړو او میوو پوستکي په ټاکلي ځای کې وانه چول شي څه پېښېږي؟

۲. د چټلیو د مخنیوي په خاطر باید کوم ټکي په پام کې ونیسو؟

که غواړو چې روغتیا مو ښه وي او ناروغه نشو څه باید وکړو؟ د خپل ځان، کورنۍ ، او د چاپېریال پاکوالي ته باید ډېره پاملرنه ولرو. هر کله چې غواړو خواړه او مېوې وخورو، لومړی خواړه او مېوې باید په پاکو اوبو ومینځو او بیا یې وخورو چې ناروغه نشو. همدا راز د مېوو اودخوړو پوټکي باید په ټاکلیو اومناسبوځایونوکې واچوو. که چېرې د خوړو پوټکي په لارې واچوو، نه یوازې دا چې په دې کارسره زموږ د چاپېریال پاکوالی کمېږي، بلکې دا کار بیا د ډېرو ناروغیو لامل هم ګرځي. نو په کار دا ده چې تل دخپل چاپیریال پاکوالي ته پاملرنه وکړو.د مېوو د پوټکو او د نورو شیانو د بې ځایه اچولو څخه ډډه وکړو، ترڅو دژوند چاپیریال مو پاک او روغتیا مو تل په برخه وي.

لغتونه او معناګانې:

چاپېریال :	شاوخوا
پوټکي :	د مېوو پوستکي

د زده کوونکو فعالیتونه:

- د لوست متن یو له بل سره ولولئ!
- زده کوونکي دې یو بل ته دلوستل شوي متن څو جملې املاء ووايي.
- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د پوستکي، مېوې، روغتیا، کلمې پــه تورو باندې واړوي.
- څو زده کوونکي دې په خپل وار د خځلو د بې ځایه اچولو په اړه خبرې وکړي.

کورنی دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د متن لوستل شوې برخه په ښکلي خط سره ولیکي.

زموږ چاپېريال

موخه: چې زده کوونکي خپل چاپېريال وپېژني، د چاپېريال د لوبو ميدانونو، ساعت تېري وسايلو په ساتلو او ارزښت پوه شي او دا متن سم ولولي او سم يې وليکي.

پوښتنې:

۱. ستاسو په نظر چاپېريال څه ته وايي؟
۲. خدای (ج) زموږ په چاپېريال کې کوم شيان زموږ د ګټې لپاره پيدا کړي دي؟
۳. تاسې په خپل کلي کې د لوبو کولو لپاره پارک او د لوبو وسايل لرئ؟
۴. تاسې د خپل کلي يا چاپېريال ساتنې ته څه ډول پاملرنه کوئ؟

په کوم ځای کې چې موږ ژوند کوو. هغه د چاپېريال په نوم ياديږي. زموږ په چاپېريال کې خاورې، ډبرې، اوبه، ونې، بوټي، غلې، مېوې،څاروي، او الوتونکي شته دي. دا ټول شيان خدای (ج) زموږ د ګټې اخيستنې لپاره پيدا کړي دي. ترڅو له دغو ټولو نعمتونو څخه سمه ګټه واخلو. نو موږ ته لازمه ده چې د خپل چاپېريال سمسورتيا او پاک ساتنې ته ډېره پاملرنه وکړو. ځکه چې په طبيعت کې دا ټول شيان ځانګړې ښه والی او ارزښتونه لري. په چاپېريال کې ونې او ګلان هوا پاکه او ستره ساتي. د پاکې هوا تنفس کول بدن ته ګټه رسوي او انسان له ناروغيو څخه ژغوري.

همدا راز بايد په ټاکلي وخت سره ونو او ګلانو ته اوبه ورکړو. دهغو پالنه وکړو او پرې نږدو چې څوک يې ښاخونه مات کړي.

سربېره پر دې هغه دلوبو وسايل چې په پارکونوکې زموږ د لوبو او دچاپيريال د ښايست لپاره دي په سمه توګه ترې کار واخلو،او ورته

زيان ونه رسوو، ښه زده کوونکي تل د خپل چاپېريال په ساتنه کې ښه پاملرنه کوي او له خپل چاپېريال څخه په سمه توګه ګټه اخلي.

د زده کوونکو فعاليتونه:

- په خپلو ګروپونو کې د لوست متن ولولئ. او د پارکونو، د لوبو د شيانو څخه د سمې ګټې اخيستو په اړه له يو بل سره خبرې وکړئ او بيا د هر ګروپ يو تن دې د ټولګي مخې ته راشي او د چاپېريال په اړه دې خپل معلومات نورو ته وړاندې کړي.
- د لاندې چوکاټ د جمع کلمو مفرد شکل د کلمو ترڅنګ په خپلو کتابچو کې وليکئ.

جمع	مفرد
ډبرې	ډبره
ونې	
مېوې	
نعمتونه	

کورنۍ دنده:

- له لاندې کلمو څخه هغه کلمې په ګوته کړئ چې زموږ په چاپېريال کې پيدا کېږي او بيا يې په خپلو کتابچو کې وليکئ! (څاروي، تېږې خاوره، اوبه، ونې، ځمکه، ډبر، ټول)

دېرشم لوست

د سګرټ څکولو زيانونه

موخه: د سګرټو په زيانونو پوهېدل، ځان ترې ساتل او ددې متن لوستل او ليکل دي.

پوښتنې:

۱. څه فکر کوئ چې سګرټ څکول کومې ناروغۍ رامنځ ته کوي؟
۲. څوک چې سګرټ څکوي د هغو روغتيا به څرنګه وي؟
۳. ويلی شئ چې د ناروغيو تر څنګ د سګرټ څکول نور کوم زيانونه لري او خلک ولې ترې کرکه کوي؟

سګرټ څکول د انسان لپاره زيان لري. سګرټ څکول د سږو او زړه لپاره ډېر خطرناک دي. هغه څوک چې سګرټ څکوي ډېر ژر به د زړه او سږيو په ناروغيو اخته شي، داسې کسان تل ټوخېږي. سګرټ نه يوازې دا چې روغتيا لپاره ضرر رسوي، بلکې اقتصادي تاوان هم لري او پيسې پرې مصرف کېږي. همدا راز د سګرټو په څکولو کې نورو خلکو ته هم زيان رسېږي، دا ځکه هغه لوګی چې د سګرټ څکوونکي له خولې څخه راوځي نورو ته هم تاوان رسوي. همدا راز که چېرې امېندواره ښځه سګرټ وڅکوي ماشوم ته يې هم د زيان رسېدو امکان شته. نو لازمه ده هغه څوک چې سګرټ څکوي ځانونه دې ترې په کلکه وژغوري.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- یو د بل په مرسته د لوست متن ولولئ. او بیا دې څو زده کوونکي د ټــولګي مخې ته په وار سره راشي او د سګرټ څکولو د زیانونو پــه اړه دې خبــرې وکړي.
- د لاندې کلمو مناسبه معنا له چوکاټ څه وټاکئ او د کلمو تر څنګه یې پــه خپلو کتابچو کې ولیکئ.

کوچنی
تاوان
ششونه

الف:سږي: ________

ب: زیان: ________

ج:ماشوم: ________

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د سګرټ، روغتیا، ضرر، کلمې پــه لنډو جملو کې وکاروي.

يو دېرشم لوست

چرچرک او مېږی

موخه: د وخت بې كاره تېرولو په زيانونو پوهېدل، له وخت څخه په سمه توګه ګټه اخيستل او ددې كيسې لوستل او ليكل دي.

پوښتنې:

۱. آيا تاسې خپل وخت بيكاره تېروئ او كه په كار او زيار كې يې تيروئ؟
۲.ستاسو په نظر خپل وخت بې ځايه تېرول څه زيان لري؟
۳.ستاسو په فكر څوک چې په خپلو كارونو كې زيار باسي ژوند به يې څه ډول وي؟

يوه مېږي په اوړي كې ډېر زيار ايسته. ده به د ژمي لپاره خواړه برابرول، چرچرک د ونې په ښاخ ناست و او سندرې يې ويلې، په دې وخت كې يې مېږی وليد،نو داسې يې ورته وويل: (ای ملګريه! څومره زيار باسې؟) مېږي ورته وويل:(څه، څه ته دې خپلې سندرې وايه، ما پرېږده چې خپل كار وكړم) چرچرک سندرې ويلې او په خوښۍ يې شپې او ورځې تېرولې. ژمی را ورسېد او چرچرک چې خواړه نه درلودل، نو له مېږي څخه يې خواړه وغوښتل. مېږي ورته وويل:(تا خو د كار وخت په سندرو او ترانو تېر كړ او ما په ډېره خوارۍ د ژمي لپاره خواړه را ټول كړل). چرچرک په دې خبره غلی شو. مېږي بيا ورته وويل: (څرنګه چې په اوړي كې دې سندرې ويلې، اوس نڅا كوه!).

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلو ګروپونو کې متن ولولئ!
- د متن په مطلب له یو بل سره خبرې وکړئ او بیا دې دهر ګروپ یو تــن د ټولګي مخې ته راشي د متن د مطلب په اړه دې خبرې وکـــړي اوهـــم دې د کیسې لنډیزخپلو ټولګیوالو ته ووایي.
- د چوکاټ د ورکړل شویو کلمو هم معنا کلمې د کرښې پــه واســـطه ســـره ونښلوئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

اوړی	تیارول
زیار	بدلي
سندرې	زحمت
برابرول	دوبی

کورنی دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د لاندې جملو تش ځایونه د قوسونو په مناسبو کلمو سره ډک کړي.

الف: په ا وړي کې یو _______ ډېر زیار ایسته. (مېږي، مچۍ)

ب: چرچرک _____ ویلي او په خوښۍ یې شپې او ورځې تېرولې. (سندرې، بدلې)

د غاښونو ساتنه

موخه: دمتن سم لوستل، ليکل، د غاښونو د روغتيا په ارزښت او ګټو پوهېدل دي.

پوښتنې:

۱. روغ او جوړ غاښونه څه ګټې لري؟
۲. تاسې د خپلو غاښونو د ساتنې لپاره بايد څه وکړئ؟
۳. په غاښونو باندې د کلکو شيانو ماتول کوم زيانونه لري؟

د ملالۍ غاښ خوږېده پلار يې د غاښونو کلينيک ته بوتلـــه. ډاکټـــر چې کله د ملالۍ غاښونه وليدل نو پوښتنه يې ترې وکړه: (په غاښونو دې څه مات کړي دي؟ ملالۍ ځواب ورکړ: پرون مې بادام پرې ماتول چې پاسنی غاښ مې په درد شو. ډاکټر ورته وويل: (هېڅکله په غاښونو کلک شيان مه ماتوه، ځکه د کلکو شيانو ماتول غاښونه زيانمن کوي، غاښونه د خوړو د ژولو لپاره يوه ډېره ارزښت ناکه وسيله ده، کـــه غاښونه مو روغ نه وي خواړه نشو ژو ولی.

موږ بايد دخپلو غاښونو ښه ساتنه وکړو.) ډاکټر بيا ترې وپوښـــتل: غاښونه پرې مينځې؟ ملالۍ ځواب ورکړ (هو، هره شپه مخکې له ويده کېدو څخه يې مينځم.) بيايې ملالۍ ته وويل: ډېر ښه، نو موږ ته په کار دي چې د خپلو غاښونو ښه ساتنه وکړو.

او پلار ته يې وويل چې د دغې نسخې درمل واخله او په وخت سره دې مخکې له ډوډۍ خوړلو څخه وخوري. پلار يــې د ډاکتــر لــه لارښوونې څخه ډېر خوشحال شو اوخپلې لور تــه يــې وويــل: د ډاکترصاحب لارښوونې همېشه په پام کې ونيسه، ترڅو د غاښونو په ناروغۍ اخته نه شې.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلو ګروپونو کې متن ولولئ او د غاښونو دارزښت په اړه له يو بل ســره خبرې وکړئ او بيا دې د هر ګروپ يو تن د ټولګي مخې تــه راشــي او د خپلو غاښونود ارزښت په اړه دې معلومات وړاندې کړي.
- لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې وليکئ او بيا يې په لنډو جملو کې وکاروئ

(غاښونه– کلک شيان – مينځم)

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د لوست د متن له مخې څلور کرښې وليکي.

درې دېرشم

د ملاريا ناروغي

موخه: د متن لوستل، ليکل او د زده کوونکو پوهېدل، چې د ملاريا ناروغي د ماشی د چيچلو په وسيله انسان ته لېږدول کېږي. او د مخنيوي لپاره يې بايد ولاړې او ناپاکه اوبه له منځه يوړل شي.

پوښتنې:

۱. د ملاريا ناروغي څه ډول ناروغي ده؟
۲. دا ناروغي له څه شي څخه انسان ته پيدا کېږي؟
۳. مخکې له دې چې څوک د ملاريا په ناروغۍ اخته شي، څه ډول بايد له هغې څخه ځان وساتي؟



د ملاريا ناروغي د مياشې د چيچلو په وسيله انسان ته لېږدول کېږي. دا ماشې د انافيل په نامه يادېږي چې په ولاړو اوبو، ډنډونو، تودو سيمو کې ژوند کوي. هلته هګۍ اچوي، د ملاريا ناروغي په اوړي او منې کې ډېره زياته وي. د ملاريا د مياشې له چيچلو څخه وروسته په ناروغ سړه او توده تبه راځي، او کله کله زړه بدي هم لري.

که دا تبه همېشنۍ شي، نو د ډېرو نورو ناروغيو لامل ګرځي په دې ناروغي کې د وينې کمښت منځ ته راځي. نو ګرانو زده کوونکو! موږ ته په کار ده چې د امکان په صورت کې د ناولو او چټلو اوبو ډندونه له منځه يوسو او مخنيوی يې وکړو.

د کوړونو کړکيو ته بايد جالۍ ونيسو. او د شپې له خوا بايد په پشه خانو کې ويده شو. که چېرې څوک په دغې ناروغۍ اخته شي بايد ډېر

ژر اړوندو کلينيکونو ته ورشي ځکه دا خطرناکه ناروغي د نه درملنې په صورت کې د نورو ډېرو ناروغيو او حتی د مړينې لامل ګرځي.

مآخذ: افغان اساسي قابليتونه، پښتو لپاره د زده کړي لازمي مواد

د زده کوونکو فعاليتونه:

- متن ولولئ او د ملاريا د تبې په هکله يو له بل سره خبرې اترې وکړئ بيا دې د هر ګروپ يو تن د ټولګي مخې ته راشي او د ملاريا د ناروغۍ په هکله دې خپل معلومات وړاندې کړي.
- په خپلو کتابچو کې د لاندې چوکاټ دکلمو متضاد شکل د کرښې په وسيلې سره ونښلوئ.

ورروسته	مرګ
ژوند	لږ
ډېر	سوړ
تود	ډېرښت
کمښت	وړاندې

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځايونه د قوسونو په مناسبو کلمو سره ډک کړي.

الف: د ملاريا تبه د مياشې د چيچلو په وسيله انسان ته ______. (لېږدول کېږي، پيداکېږي)

ب: د ملاريا ______ په اوړي او منې کې ډېره وي. (ناروغي، چېچل)

هېوادنۍ مینه

موخه: له هېواد سره د زده کوونکو د مینې او هغه ته د خدمت کولو د ذهنیت وده او پیاوړتیا. او د دې متن سم لوستل او سم لیکل دي.

پوښتنې:

۱. په پورتني انځور کې څه شی وینئ؟ خبرې پرې وکړئ!
۲. زموږ د هېواد نوم څه دی؟
۳. هېواد ولې پر موږ ګران دی؟

هېواد زموږ د ټولو افغانانو ګډ کور دی. او په دې کور کې ژوند کوو. د هېواد د پاکې او سوتره هوا څخه ګټه اخلو او په نعمتونو یې زموږ بدن وده کوي.

د هېواد اوبه، لمر، هوا، خاوره، غرونه او ټول طبیعت یې د خپل تن په شان را باندې ګران او د زړه مینه ور سره لرو. خو دا مینه یوازې په ویلو سره نه، بلکې په دې لاره کې عمل د رښتیانۍ مینې ښه ثبوت کېدلی شي. هېواد له موږ نه کار غواړي چې په رښتینې توګه خپلو هېوادوالو ته خدمت وکړو.

نن چې موږ زده کوونکي یو، د خپلې مینې د پوره ثبوت لپاره هم باید خپل درسونه ښه زده کړو، د خپل ګران هېواد او خلکو لپاره د کار او خدمت وړ وګرځو، او په راتلونکي کې د دې وړتیاوو په اساس وکړی شو چې خپل دا وران او ویجاړ هېواد ودان کړو.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلو ګروپونو کې متن ولولئ!
- د لاندی کلمو هم معنا له چوکاټ څخه پیدا کړئ او د کلمو تر څنګ یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ!

الف: هېواد_____وطن____

ب: ګټه __________

ج: وده__________

د: ویجاړ_________

نمو
فایده
وطن
وران

کورنۍ دنده:

- د لاندې جملو تش ځایونه د قوسونو په مناسبو کلمو سره ډک کړئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ!

هېواد زموږ د ټولو افغانانو ګډ کور_ . (دی، ده)

د هېواد اوبه، لمر، هوا او خاوره را باندې ګران_____. (دي، لري)

پنځه دېرشم لوست

د غزني ښار

موخه: د متن لوستل، ليکل او د خپل هېواد د غزني د تاريخي ښو نښانو پېژندل دي.

پوښتنې:

۱. تاسو ته د خپل هېواد تاريخي ځايونه معلوم دي ؟ نومونه يې واخلئ؟

۲. د غزني په ښارکې د تاريخي ځايونو ښې نښانې مو ليدلې دي؟



غزنی زموږ د ګران هېواد افغانستان ډېر لرغونی ښار دی، غزنی د اسلام د سپېڅلي دين له راتګ سره په لومړيو وختونو کې د غزنويانو د پاچاهۍ مرکز و، دا ښار د سلطان محمود غزنوي له خوا اداره کېده، سلطان محمود غزنوي نه يوازې يو ځواکمن پاچا و، بلکې د هنرونو ښه پالونکی هم و، هغه د غزني ښار له پوهانو او هنرمندانو ځخه ډک کړی و.

د غزني په ښار کې د لرغونو آثارو ښې نښانې لا تر اوسه هم پاتې دي له هغو ځخه دوه ستر منارونه دي چې د کابل او غزني د سړک په غاړه اوس له خپلو تاريخي وياړونو سره ولاړ دي.

همدا راز يوه ماڼۍ او د هغه وخت د سرتېرو د استوګنځيو ښې نښانې هم ليدل کېږي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلو ګروپونو کې دی متن ولولي او د لوست د مطلب په اړه دې یو د بـــل سره خبرې وکړي. بیا دې د هر ګروپ یو تن د ټولګي مخې ته راشي او د غزني د ښار په هکله دې معلومات ورکړي.
- د لاندې چوکاټ هم معنا کلمې په خپلوکتابچوکې یو له بل سره په مناســـبو کلمو ونښلوئ!

لرغونی	قصر
ځواکمن	غښتلی
مانۍ	پخوانی

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه د قوسونو په مناسبو کلمو ســره پــه خپلــو کتابچو کې ډک کړي.

الف: غزنی زموږ د ګران هېواد افغانستان یو ______ ښار دی. (لرغونی، زوړ)

ب: د غزني په ښار کې د لرغونو ______ نښې نښانې لا تر اوسه هم پاتې دي.(هنر، آثارو)

دوه اخترونه

موخه: چې زده کوونکي د کوچني او لوی اختر په هکله معلومات ترلاسه کړي او دا متن سم ولولي او سم يې وليکي.

پوښتنې:

١. په انځور کې څه شی وينئ؟ خبرې پرې وکړئ!
٢. پوهېږئ چې زموږ خلک په کال کې څو اخترونه لري؟
٣. ستاسو په فکر خلک ولې په اخترونو کې خوشحالي کوي؟

مسلمانان په کال کې دوه اخترونه لري، يو يې کوچنی اختر دی، چې د روژې د مياشتې په پای ته رسېدو سره رارسېږي او دويم يې لوی اختر دی. په اخترونو کې خلک نوي کالي اغوندي. ښځې، پېغلې او ماشومان خپل لاسونه سره کوي، ځوانان او سپين ږيري د اختر د لمانځه لپاره جوماتونو ته ځي، هلته د اختر لمونځ کوي. همدا رنګه په لوی اخترکې زموږ هغه خلک چې اقتصادي توان او وس ولري په دغو ورځوکې د پسونو، سېرليو او نورو څارويو په حلالولو سره قرباني کوي،اوځينې خلک په ګډه د غوايانو په حلالولو سره په قربانۍ کې برخه اخلي. چې د هغو يوه برخه غوښه په خپلو خپلوانو، ګاونډيانو او بې وزلو خلکو وېشي. په اخترونوکې خلک يو بل ته مبارکي وايي او يو د بل کورونو ته ځي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې متن په خپلوګروپونوکې له يو بل سره ولــولي او د مــتن د مطلب په اړه دې خبرې وکړي.

- د جملو تش ځایونه دي په قوسونو کې په مناسبو لیکل شووکلمو ډک کړي!

په کوچني اختر کې خلک نوي کالي ــــــــــــــ.   (اغوندي، نه اغوندي)

ښځې، پيغلې او ماشومان خپل لاسونه سره ــــــــ.   (کوي، کوو)

سپين ږيري او ځوانان د اختر د لمانځه لپاره جوماتونو ته ـــــ. (ورځي، نه ځي)

هغه خلک چې وس او توان لري په دغو ورځو کې ـــــــکوي .(قرباني، خيرات)

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د (کوچنی، اختر، لوی) کلمې په لنــډو جملــوکې وکاروي.

د تګ راتګ وسېلې







موخه: د تګ او راتګ د وسیلو پېژندل، په ارزښت او ګټو یې پوهېدل او ددې لوست سم لوستل او لیکل دي.

پوښتنې:

۱. په انځورونو کې څه وینئ؟

۲. ستاسو په فکر موږ د تلو او راتلو لپاره څه شي ته اړتیا لرو؟

۳. د کلي او باندو خلک خپل بارونه او مالونه په څه شي وړي او راوړي؟

د یوه هېواد د پرمختګ لپاره د ډېرو نورو شیانو په څنګ کې د وړلو او راوړلو وسیلو ته هم اړتیا ده. ځکه چې د خلکو ټولې اړتیاوې په یوه وخت او یوه ځای کې نه پوره کېږي. هغوی ځینې وختونه نورو ځایونو ته ځي یا د نورو ځایونو څخه خواړه او د اړتیا وړ شیان خپلو سیمو اوکلو ته راوړي. پیوست شي چې د دې کار د تر سره کولو لپاره دغو وسایلو ته اړتیا پیدا کوي.

د تلو راتلو وسېلې لکه موټرونه، لارۍ، ګاډۍ، بایسکلونه، او همدا راز د ځینوښاروېو لکه آس، اوښ، کچر، خر او نورو څخه هم د بار وړلو لپاره ګټه اخلي خپلې ستونزې او اړتیاوې پرې لرې کوي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- د لوست متن له يو بل سره ولولئ. او نوې کلمې معنا کړئ!
- څو زده کوونکي دې د بار وړونکو وسيلو نومونه د ټولګي په مخ کې واخلي.
- د لاندې چوکاټ د مفردو کلمو څخه د جمع کلمې جوړې او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ!

مفرد	جمع
آس	اسونه
اوښ	
کچر	
موټر	

کورنی دنده:

لاندې کلمې په جملو کې وکاروئ! او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

آس، موټر، کچر، بايسکل

جرګه

موخه: جرګه و پېژني، په دې پوه شي چې شخړې او ستونزې په جرګو اوارېږي او هم د متن سم لوستل اوسم ليکل دي.

پوښتنې:

۱. ستاسو په نظر جرګه څه ته وايي؟

۲. زموږ خلک خپلې ستونزې څه ډول اواروي؟

زموږ خلک خپلې ستونزې د جرګو له لارې اواروي. افغانانو ته دا پخوانی دود له نيکونوڅخه پاتې دی چې زموږ خلکو د غه منل شوی دود له پخوا څخه تر نن ورځې پورې پاللی دی. کله چې په ولسونو کې کومه ستونزه راپيدا شي، نو بيا جرګې جوړوي او خپلو ستونزو ته د جرګو په مرسته د حل لارې لټوي. جرګې ځانګړي قوانين لري. په دې غونډو کې د قوم هغه سپين ږيري او مشران راټولېږي چې ټولو ته منلي وي. جرګه کوونکي په يوه ټاکلي او ځانګړي ځای کې راغونډېږي، اړوندو ستونزو باندې خبرې کوي او په پای کې خپله عادلانه پرېکړه اعلانوي. زموږ خلک د جرګو پرېکړو ته په درنه سترګه ګوري او هغه مني.

دزده کوونکو فعالیتونه:

- متن دې ولولي او په خپلو ګروپونوکې د متن د مطلب په اړه له یو بل سره خبرې وکړي او بیادې د هر ګروپ یو تن د ټولګي مخې ته راشي او د متن د مطلب په اړه دې خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د لیکل شوو کلمو لپاره د هغو مترادفې کلمې په چوکاټ کې پیدا او دکلمو تر مخې دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

الف: جرګه:ـ دروغي جوړې غونډه

ب:ستونزې: ________

ج: سپیڅلی: ________

د: ځانګړي: ________

هـ: پرېکړه: ________

فیصله
روغه جوړه
مشکلات
پاک
خاص

کورنی دنده:

زده کوونکي دې د جرګه، پرېکړه، روغه جوړه کلمې په لنډو جملو کې وکاروي.

نهه دېرشم لوست

وزلوبه (بزکشي)

موخه: د متن لوستل، لیکل د بزکشي د لوبې پېژندل او ددې لوبې په هکله معلومات تر لاسه کول دي.

پوښتنې:

۱. آیا تاسو په کوم ځای کې وزلوبه لیدلې ده؟
۲. څوک د وزلوبې په اړه خبرې کولی شي چې دا لوبه په څه ډول تر سره کېږي؟
۳. دغه لوبه زموږ د هېواد په کومو ولایتونو کې تر سره کېږي؟

وز لوبه زموږ د خلکو ډېره لرغوني او په زړه پورې لوبه ده. دا لوبه زموږ د هېواد په شمالي ولایتونوکې ډېره دود ده. په دې لوبه کې هغه مهارت لرونکي سپاره ګډون کوي چې خپل اسونه یې د دې لوبې لپاره په خاصو مهارتونو سره روزلي وي. دوی په دوو ډلو وېشل کېږي او په بېلوبېلو نومونو يادېږي.

د وزلوبې د میدان په مرکزي برخه کې یو ټاکلی ځای په پام کې نیسي، چې د حلال د دایرې په نوم یادېږي. حلال شوی خوسکی یا وزه په دغې دایرې کې اچوي. د بزکشۍ لوبه د حلال له دایرې نه پیل، بیا په یـوې بشپړې دورې سره چې له یوه بـل ټاکلي ځای څخه را څرخېږي. دوه ځلې خوسکی باید د حلال دایرې ته ورسوي او هلته يې وغورځوي په دې توګه هر ټیم چې په دغه لوبه کې نسبت نورو ته زیات فعالیت سرته ورسوي هغه ډله د لوبې ګټونکې بلل کېږي.

دا لوبه زمونږ د هېواد په زياتو ولايتونوکې هر کال د خپلواکۍ د جشن په وياړ تر سره کېږي. خلک د ننداري لپاره هلته ورځي او همدا راز د کابل په ښارکې هم هرکال د جشنونو او نورو خوشحاليو په ورځوکې ترسره کېږي.

لغتونه اومعناګانې:

لرغونی :	ډېر قديمي
ګټونکی :	وړونکی
غښتلی :	قوی
وياړ :	افتخار
دود :	رواج
پيل :	شروع
ننداره :	سيل او کتل

د زده کوونکو فعاليتونه:

- زده کوونکي دې متن ولولي او بيا دې د لوست د اصلي مطلب په هکله يود بل سره خبرې وکړي وروسته دې د هر ګروپ يو تن راشي او د وزلوبې پــه اړه دې معلومات ورکړي.
- د لاندې جملو تش ځايونه دې د چوکاټ په مناسبو کلمو ډک کړي او پــه خپلو کتابچو کې وليکي.

شمالي
لرغونی

الف: د بزکشۍ لوبه زمونږ د خلکو يوه ډېره ________ لوبه ده.

ب: دا لوبه زياتره د هېواد په ________ ولايتونو کې ډېر دود لري.

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې لاندې کلمې په لنډو جملوکې وکــاروي او پــه کتابچو کې دې وليکي.

وزلوبه، هېواد، ټيم، جشن

د اوړي موسم

موخه: د اوړي دموسم پېژندل، د اوړي په موسم کې د هوا، مېوو او غلو دانو د پخېدو په هکله پوهېدل. د متن لوستل او ليکل دي.

پوښتنې:

۱. اوړی د کال څووم موسم دی او کومې مياشتې په کې شاملې دي؟

۲. په اوړي کې کومې غلې او دانې پخېږي؟

۳. په اوړي کې ولې مېوې او دانې پخېږي؟

اوړی د کال دويم موسم دی، دا موسم هم درې مياشتې دی: (چنګاښ، زمری او وږی) چې ځينې خلک ورته د سرطان، اسد او سنبلې مياشتې هم وايي، د اوړي په موسم کې هوا ورو ورو تودېږي،چې دا تودوخه ډول ډول مېوې لکه ختکي، هندوانې، منې، ناک، شفتالو، زردآلو، آلوبالو، انګور، ګيلاس او همدا رنګه ټولې غلې دانې پخوي.چې زموږ د روغتيا او د ژوند د سمبالولولپاره په زړه پورې ګټې لري.

په دغه موسم کې بزګران د خپلو غلو او دانو په راټولولو پيل کوي او د پسرلي د موسم د خپل کار او زيار ګټې لاس ته راوړي او خپلې اړتياوې پوره کوي، ځينې بزګران او باغوانان د خپلو اړتياوو څخه زياتې مېوې او دانې د پلورلو لپاره بازارونو ته وړي او هلته يې خرڅوي او له پيسو څخه يې د ژوند نورې اړتياوې پوره کوي.

لغتونه او معناګانې:

موسم :	وخت، فصل
زیار :	زحمت

د زده کوونکو فعالیتونه:

- یو د بل په مرسته دې د اوړي د موسم مــتن ولــولي او بیــا دې څــو زده کوونکي په وار سره د اوړي په هکله خبرې وکړي.
- د اوړي د میاشتود نومونو هم معنا کلمې دې له چوکاټ څخه پیدا کړي او د کلمو تر څنګه دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

سنبله
اسد
سرطان

الف: چنګاښ:__________

ب: زمری: __________

ج: وږی: __________

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه په قوسونوکې د لیکــل شوو مناسبوکلموله مخې ډک کړي.
- الف: اوړی د کال __________ موسم دی. (دویم، لومړی)

ب: د اوړي په موسم کې هوا ورو ورو __________. (تودېږي، سړېږي)

باغوان

موخه: د باغوان د دندې د ارزښت او ګټو پوهېدل او د دغه متن لوستل ، ليکل او په متن کې ورته (مشابه) کلمو پېژندل دي.

پوښتنې:

۱. تاسې پوهېږئ چې باغوان چاته وايي؟

۲. تاسو ويلی شئ باغوان کوم مهم کارونه سرته رسوي؟

کيسه:

يوه ښوال يو بڼ درلود. هغه به هره ورځ د سهار له خوا ځينې شيان لکه لور، رمبې او بېل په لاس د باغ په لور روان و. باغوان به په باغ کې ډېر زيار ايسته. ښې مېوې لرونکې ونې يې پکې کښېنولې وې. ده به د ونو له بېخونو څخه بې کاره واښه لېرې کول. اوبه به يې ورکولې او يوه ګړۍ به يې له کار او خدمت څخه خلاصون نه و.

هرکال به يې له دغه باغ څخه ناخه ګټه تر لاسه کوله او له دغې لارې به يې خپله ګوزاره په ښه توګه کوله. لږه موده وروسته باغوان مړ شو. د هغه زوی چې د خپل پلار څخه يې ښېل ژوند کاوه د پلار ټول مال او باغ ورپاتې شو.

زوی یې په بې پروایي اوچړچو پیل وکړ. د لټۍ او بې پروایۍ له کبله د باغ غم خواري ترې پاتې شوه. اوبه به نه ورسېدې، نو د باغ ونې ورو ورو وچې او له ګټې څخه ولوېدې، دی اړ شو چې باغ او جایداد خرڅ کړي څه موده یې په هغو پیسو خپله ګوزاره وکړه، په پای کې هغه هم خلاصې شوې. د خوارۍ او غریبۍ په کړاوونو اخته شو.

لغتونه او معناګانې:

چړچو	:	عیش یا مزې
ګړۍ	:	ساعت
بڼوال	:	باغوان

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلو ګروپونو کې متن ولولئ یو تن دې د ټولګي مخې ته راشي اود متن مطلب دې نورو ته د کیسې په توګه ووایي.
- د لاندې ورته (مشابه) کلمو لپاره په چوکاټ کې دوې معنا ګانې درکړل شوي دي تاسې یې سمه معنا پیدا او د کلمو تر څنګه یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ:

الف: لور:_______

ب: لور: _______

ج: بېل: _______

د: بېل: _______

طرف، خوا
یوم
یواځې
د رېبدلو آله

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې لاندې کلمې په جملو کې وکاروي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

لور، لور، بېل، بېل، باغوان

د ونو ګټې

موخه: زده کوونکي د ونو په ګټو او ارزښت وپوهېږي.د مېوو لرونکو او بې مېوو ونو په توپیر او ګټو وپوهېږي او لاندې متن ولولي او وېې لیکي.

پو ښتنې:

۱. ستاسو په نظر، ونې کومې ګټې لري؟

۲. آیا تاسې په کور کې ونې لرئ، ویلی شئ چې څه ګټې لري؟

ونې د انسانانو په ژوند کې ډېرې ګټې لري، په هر ځای او سیمه کې چې ونې ډېرې وي د هغې سیمې هوا د روغتیا لپاره ډېره ګټوره ده. ټول انسانان، څاروي او مرغان پاکې هوا ته ډېره اړتیا لري. ناپاکه او ګردجنه هـــوا د ناروغیو سبب ګرځي.

همدا راز په هغه ځای کې چې ونې ډېرې وي، دهغه ځای چاپیریال هـــم سمسور وي چې دسېمې سمسورتیا او پاکي د انسان د روغتیا سبب ګرځي.

همدا رنګه په سمسورو سیموکې ډېرې ونې د بادونو او سېلابونو د مخنیوي سبب ګرځي.

زمونږ په هېواد کې د ونو ډېر ډولونه شته، چې یو ډول یې مېوه لرونکې ونې او بل ډول یې بې مېوې ونې دي. د مېوه لرونکو ونو ډېرې ښې ګټې د هغو مېوې

دي، سربېره په دې انسانان د بې مېوو ونوله لرګيو څخه د ژوند نـــورې اړتياوې پوره کوي.

د کورونو، کړکيو، دروازو، مېزونو، څوکۍ، الماری، او تر ټولو مهمه دا چې د سپين کاغذ په جوړولوکې ترې خورا ډېره ګټه اخيستل کېږي. همدا رنګه په ژمي کې هم د کورونو د تودولو لپاره ترې کار اخلي.

د زده کوونکو فعاليتونه:

- زده کوونکي دې په خپلو ګروپونوکې لوست ولولي.
- د ونو د ګټو په اړه دې په شفاهي توګه خبرې وکړي.
- لاندې کلمې دې په خپلوکتابچو کې وليکي او بيا يې په تورو واړوي.

(ونې- روغتيا- سپېځلې- مېوې)

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د متن لوستل شوې برخه په ښکلي خط وليکي.

د وخت ارزښت

دريم څلوېښتم لوست

موخه: د وخت په ارزښت پوهېدل او له هغه څخه هر اړخيزه ګټه اخيستل او د لوستلو او ليکلو د مهارتونو لاس ته راوړل دي.

پوښتنې:

۱. که تاسوخپل کارونه په ټاکلي وخت سر ته ورسوئ پايله به يې څه وي؟

۲. ولې وايي چې وخت د سرو زرو په ډول ارزښت لري؟

ما ټول خلک پيژني، خو ځان نه پوه کوي، زه په تلوار سره روان يم. چې يو ځل ولاړ شم بيانه راګرځم. زما په قدر ځيني خلک نه پوهيږي او له ما سره بې پروايي کوي. زه داسې خلکو ته حيران يم چې دوی زما په تللو سره ځوانان شي، خو بيا کله چې د ځوانۍ عمر يې تېر شي ما هېر کړي، تر هغو چې سپين ږيري شي.

خو زه تاسو ته د دوستۍ دا خبره کوم چې زما په قدر پوه شئ او ما ورېيا له لاسه مه ورکوئ. زه ډېر قيمتي يم او خلک ما سره زر بولي.

نو اوس ووایاست چې زما نوم څه دی؟ زه به يې درته ووايم زما نوم وخت دی.

مآخذ: پښتو زده کړې اساسي قابليتونه

لغتونه او معناګانې

تلوار :	ګړندیتوب
ورېيا :	مفت
تللو :	تګ – تلل
سره زر:	طلا–

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې متن په خپلو ګروپونو کې ولولي، وروسته دې د هر ګروپ یو تن د ټولګي مخې ته راشي او د لوست په مطلب دې خبرې وکړي.
- د لاندې چوکاټ مترادفې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او بیا یې له یو بل سره د کرښې په واسطه ونښلوئ.

قدر	له یاده ایستل
هېرول	مفت
وړیا	باارزښته
قیمتي	ارزښت

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د وخت، قدر، سره زر کلمې په لنډو جملو کې وکاروي.

باران

موخه: زده کوونکي باید پوه شي چې باران څنګه منځ ته راځي، څه ګټې لري. او د متن سم لوستل او لیکل دي.

پوښتنې:

۱. څوک ویلی شي چې باران ځمکې ته څه ګټې رسوي؟

۲. که چېرې باران نه وي څه پېښېږي؟

۳. ستاسو په نظر باران څنګه منځ ته راځي؟

اوبه د ټولو ژوو د ژوندي پاتې کېدو لپاره له لومړنیو اړتیاوو څخه ګڼل کېږي. نو ځکه باران هم د ژوند لپاره ډېر ارزښت لري. ځمکه اوبه کوي، ونو، بوټو او ټولو نباتاتو ته ژوند او وده ورکوي. د انسانانو، څـــارویو، الوتونکو او د نورو ټولو ژوو ژوند د اوبو په وسیله پایښت مومي.

اوس باید پوه شو چې باران څنګه راځي؟ د ځمکې پرمخ اوبه د لمر د وړانګو په واسطه تودیږي، ورو ورو د بخار په توګه هوا ته پورته کېږي، بیا هلته د هوا د لوړوالي له امله سړه او د وریځو په څېر په فضا کې راټولیږي او د څاڅکو په څېر بېرته ځمکې ته راښکته کېږي چې مونږ یې باران یا د الله تعالی (ج) لوی رحمت بولو.

لغتونه او معناګانې:

ژوي :	ژوندي موجودات
اړتيا :	ضرورت
بقا :	پايښت
په ځېر :	په شان
وده :	نمو

د زده کوونکو فعاليتونه:

- متن دې په لوړ آواز ولولي.
- د اوبو د ګټو په هکله دې يو له بل سره خبرې وکړي او بيا دې له هر ګروپ څخه يو تن د ټولګي مخې ته راشي او د اوبو د ګټو په هکله دې نورو ته معلومات ورکړي.
- د لاندې ګډو وډو کلمو څخه يوه لنډه جمله په خپلو کتابچو کې جوړه کړئ.
  (باران، رحمت، بولو، د الله تعالی (ج)، لوی)

کورنۍ دنده:

- لاندې جملې ولولئ او بيا يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.
- باران د ژوند لپاره ډېر ارزښت لري. ځمکه پرې اوبه کېږي او سمسورتيا مومي. ونو، بوټو او ټولو نباتاتو ته ژوند او وده ورکوي.
- باران د الله تعالی لوی رحمت او د ژوند له لومړنيو اړتياو څخه بلل کېږي.

بزګر

موخه: د نظم لوستل، لیکل او د بزګر د دندې په ارزښت او ګټو پوهېدل دي.

پوښتنې:

۱. تاسو کوم بزګر پېژنئ؟

۲. بزګر په ځمکه کې څه شی کري؟

۳. بزګران له کومو شیانو څخه د ځمکې په کرلوکې کار اخلي؟

ځمکه وتره په اوبو کــا
بیا یې یوې په غویو کــا
تخم و شیندي پټي کــې
بیا ماله یې په ورو وروکــا
ځوک کرکیله په ماشین کا
دچا زړه بیا غویي شین کــا

(روغمن)

کیسۍ

هغه کومه کلمه ده که د ښي لورې نه یې ولولې دخوړلو شی او که د کیڼ لورې نه یې ولولې د اغوستلو شی ورڅخه جوړېږي؟

م، ر، چ = (   )   چ، ر، م = (   )

لغتونه او معناګاني:

وتره :	نیمه وچه
یوې:	قلبه
شیندي :	تیتوي
کرکیله :	کښت
شین:	غمجن
ښی :	راسته
کیڼ:	چپه

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې نظم له یو بل سره ولولي او مطلب دې په خپلـو منځونـو کې ووایي او بیا دې د هر ګروپ یوغړی د ټولګي مخــې تــه راشــي او د بزګری په اړه دې خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې د لوستل شوې کیسې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکي او زیار دې وباسي چې داسې کلمې پیدا کړي چې دکین لوري ښخه په لوســتلو سره یوه معنا او د ښي لوري ښخه بله معنا ورکړي. لکه (چرم او مرچ)

پوښتنې:

- بزګر ځمکه په څه شي یوې کوي؟
- بزګر په ځمکه کې څه شی کري؟
- بزګران کله چې په پټیو کې تخم وشیندي وروسته یې ولې ماله کوي؟

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې د بزګر شعر په یاد زده کړي او بیا دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

ترکاڼ

موخه: د ترکاڼۍ په ارزښت پوهېدل، د ترکاڼۍ د سامانونو پېژندل، د متن سم لوستل او سم لیکل دي.

پوښتنې:

۱. په پورتني انځور کې څه شی وینئ؟
۲. ستاسو په نظر ترکاڼ له لرګیو څخه کوم شیان جوړوي؟
۳. د ترکاڼۍ د سامانونو، نومونه څو ک ویلی شي؟

ترکاڼي ډېر ښه او ګټورکسب دی. ترکاڼ په ټولنه کې خورا ارزښت لري.ترکاڼ ته ټول خلک اړتیا لري. د اجمل مشر ورور ترکاڼ دی. هغه د لرګیو څخه د قرآنکریم ښه ریېلونه، مېزونه، څوکۍ ، دروازې، کړکۍ ، د لیک تختې، خطکشونه او الماري جوړوي، همداراز د بزګرۍ لپاره هم ځینې سامانونه لکه ژغ، غاښور، ماله، راشپېل، ښاخې او داسې نور شیان جوړوي.

ترکاڼ خپل کارونه په اره، تېشه، رنده، برمه اوډېرو نورو سامانونو ترسره کوي. خو اوس د ترکاڼۍ له ځینو سامانونو لکه رنده، برمه، اره او داسې نورو څخه د برېښنا په وسیله کار ترې اخیستل کېږي. د ترکاڼ لپاره کار آسان شوی دی او کولی شي چې په لږه موده کې د اړتیاوړ خورا ښه شیان جوړ کړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- له یو بل سره متن ولولئ!
- د ترکاڼ او د هغه د سامانونو په اړه خبرې وکړئ!
- د لاندې جملو تش ځایونه په قوسونو کې په لیکل شوو مناسبو کلمو ډک کړئ او بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

– ترکاڼي ډېر ښه اوګټور کسب __________. (دی، لري)

– هغه ته ټول خلک اړتیا ________. (لرو، لري)

د مشق اوتمرین املا: زده کوونکي دې له یو بل سره د متن د جملود املا کار وکړي.

- زده کوونکي دې لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې هجا کړي. لکه (تر– کاڼ)

(ترکاڼ، ټولنه، اجمل، لرګیو، اره، ترښځ، رنده، برمه)

(رایل) یا (رحیل) د ضرب (×) د نښې غوندې له لرګي څخه جوړه شوې یوه آله ده چې په منځنۍ برخه کې قاتېږي او قرآن کریم وربانديې ایښودل کېږي.

کورنۍ دنده:

– د ترکاڼ د سامانونو، نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ او په جملو کې یې وکاروئ!

تليفون

موخه: چې زده کوونکي تليفون وپېژني په ارزښت يې پوه شي. بشر ته د خدمت کولـو ذهنيت پيدا کړي. اولاندې متن سم ولولي او سم يې وليکي.

پوښتنې:

۱. تليفون د څه شي لپاره کارول کېږي؟
۲. تليفون څه ارزښت لري؟
۳. تليفون که نه وای څه کېدل؟

د تليفون اختراع د لومړي ځل لپاره د يو امـــريکايي پوه لـــه خوا چـــې(ګراهام بل) نومېده وشوه.خو د ګراهام بل تليفون بشپړ نه و. ورروسته د نورو پوهانو له خوا تليفون بشپړ شو او تر لېرې واټن پورې يې غږ ولېږداوه. اوس په نړۍ کې د تليفون په اړه زيات بدلونونه رامنځ ته شوي دي.

خلک کولی شي په ډېرې آسانۍ سره د نړۍ له يوه ګوټ څخه بل ګوټ ته خپل پيغام واستوي. سربېره پردې اوس کوچنی تليفون چې ګرځند (موبايل) نومېږي په بېلابېلو ښو ډېر ښکلی جوړ شوی دی. (موبايل) ګرځنده تيلفون ته وايي. کېدلي شي چې هر څوک يې هرځای له خپل ځان سره وګرځوي. او د اړ تيا په وخت کې ترې کار واخلي.

لغتونه او معناګانې:

واټن :	فاصله
ګوټ :	ګوښه
ستونزې :	مشکلات

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې دتلیفون متن ولولي او بیا دې له هـــر ګروپ څخه یو تن د تلیفون په اړه خپل معلومات نورو ته وړاندې کړي.
- د لاندې کلمو مترادفې کلمې له چوکاټ څخه پیدا او د کلمو تر څنګه یـــې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

۱. اختراع:____________

۲. بشپړ: ____________

۳. واټن: ____________

فاصله
پوره
نوښت

- پورتنۍ کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ اوبیا یې په لنډو جملوکې وکاروئ.

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې (د تلیفون، پیغام، نـــړۍ) کلمـــې ولیکي او بیا دې په لنډو جملو کې وکاروي.

دالوتونکو وزرونه



موخه: د متن لوستل، لیکل، او هم چې زده کوونکي په دې پوه شي چې انسان د مرغانو د الوتلو له مخې الوتکه جوړه کړه.

پوښتنې:

١. ستاسو په نظر که د الوتونکو مرغانو وزرونه نه وای څه کېدل؟
٢. انسانان د الوتکې څخه کومې ګټې اخلي؟

ملالۍ او اسد دواړه د خپل کور په باغچه کې په لوست ویلو بوخت وو. د مطالعې په وخت کې ناڅاپه د دواړو پام د یوه ښکلي مرغه خواته شو. اسد له ملالۍ څخه پوښتنه وکړه: آیا تر اوسه پورې ستا دې خبرې ته پام شوی چې وزر لرونکي ژوي الوزي؟ ملالۍ وویل: هو! پوهېږمه هغه الوتونکي چې وزرونه لري کولی شي چې والوزي.د الوتونکو وزرونه د دوی د جسامت په اندازې لوی او واړه دي. دلویو وزرونو الوتونکي ډېره اوچته الوتنه کوي. ډېرو لرو سیمو او هېوادونو ته هم تللی شي. ټول الوتونکي ډېر ښکلي هم دي. خو کاشکې، زه هم الوتونکی وای! چې ډېرې لوړې هوا ته مې الوتل کولی شوی! اسد په ځواب کې ورته وویل: خورې، لوی خدای (ج) انسانانو ته هسې فکري قوت او پوهه ورکړې ده چې د هغې په مرسته کولی شي نوښتونه وکړي.

هغه وسایل جوړ کړي، چې ډېرو لرو او لوړو ځایونو ته پرې لاړ شي. لکه څنګه چې انسان وکولی شول د خپلې همدې پوهې په واسطه الوتکه اختراع کړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې په ګروپونو کې متن ولولي او د مطلب په هکله دې یو بل سره خبرې وکړي او بیا دې دهر ګروپ یو تن د ټولګي مخې ته راشي او د متن په اصلي مطلب دې څرګندونې وکړي.
- زده کوونکي دې نوي لغتونه په خپلو کتابچو کې ولیکي او معنا یې کړي.
- واړه، الوتونکی، پوهه ،الوتکه.
- لاندې نیمګړي عبارتونه په خپلوکتابچو کې بشپړ کړئ!
  - ملالۍ او اسد دواړه د خپل کور په باغچه کې په درس ویلو ....
  - د مطالعې په وخت کې ناڅاپه د دواړو پام د یوه ښکلي .... خواته شو.
  - اسد له ملالۍڅخه پوښتنه وکړه: آیا تراوسه پورې ستا دې خبرې ته پام شوی دی هرهغه ژوی چې وزرونه لري ....
  - ملالۍ وویل: هو! پوهېږم چې ټول الوتونکي وزرونه ....

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د لوست له متن څخه څلور کرښې په خپله خوښه ولیکي.

طبيعي شتمني

موخه: د هېواد د اقتصادي شتمنيو پېژندل اودهغو ساتنه، په متن کې د جمعې او مفردوکلمو پېژندل او د دغه متن لوستل او ليکل دي.

پوښتنې:

۱. ستاسو په فکر شتمني څه معنا او مفهوم لري؟

۲. د ځنګلونو څخه څه شی په لاس راځي؟

۳. له ځنګلونو څخه کومې ګټې تر لاسه کوو؟

زموږ د هېواد ځنګلونه، دښتې، غرونه او ټول کانونه د سرو او سپينو زرو نه ډک دي. موږ بايد خپلو درسونو کې زيار وباسو علم او پوهه زده کړو، چې د خپل هېواد له طبيعي شتمنيو څخه په سمه توګه ګټه واخلو او خپل هېواد ودان او سمسور کړو.

لغتونه او معناګانې:

شتمني : دارايي، پانګه

کانونه : معدني زېرمې

پوهه : علم

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې په وار سره لوست ولولي او بیا دې له هر ګروپ څخه یو تن د ټولګي مخې ته راشي په مطلب دې خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې په لاندې چوکاټ کې د جمعو کلمو ترڅنګ مفردې کلمې پیدا اوپه خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

جمع	مفرد
ځنګلونه	ځنګل
غرونه	
کانونه	

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې (د ځنګلونه، سیندونه او کانونه) کلمې په لنډوجملو کې وکاروي.

پنځوسم لوست

کار او طبیعت

موخه: چې زده کوونکي د کار د ارزښت او ګټو په هکله پوه شي او د بې کارۍ په زیانونو او بدو پایلو وپوهیږي. اولاندې متن سم ولولي او سم یې ولیکي.

پوښتنې

۱. آیا د کار او زیار په هکله څه پوهیږئ خبرې پرې کولی شئ؟
۲. کار څه ګټې لري؟
۳. که موږ او تاسې کار ونه کړو پایلې به یې څه وي؟

خوږو زده کوونکو! ټول انسانان، څاروي او مرغان د خپل پایښت لپاره شپه او ورځ کار کوي. چې په زیار او هڅو یې د ژوند چارې سمې دي. د مثال په توګه بزګران موږ ته غنم، جوار او داسې نور کري د همدغو بزګرانو له برکته زموږ دسترخوان په ډوډۍ او نورو خوارکي شیانو باندې رنګینه وي. همداراز د مالیار د یوم په برکت باغونه او بڼونه سمسوریږي. نو که چیرې موږ لاس تر زنې کېنو دا خبره څرګنده ده چې له زیان سره به مخامخ شو.

هوښیاران وایي: کار وکړئ ځکه چې د بې کارۍ ژوندون ګران دی.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې لوست له يو بل سره ولولي. څو زده کوونکي دې په وار د ټولګي مخې ته راشي او د لوست په مطلب دې خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې په لوستل شوي لوست کې داسې کلمې پيدا کړي چې له درېو او پنځو تورو څخه جوړې شوې وي.

بيا يې په خپلو کتابچو کې هيجا کړي. لکه انسان (ان– سان) جهان (جـــ– هان)

- له مفردو کلمو څخه دجمعي کلمې جوړې کړئ!

مفرد	جمع
خاروی	
کور	
بزګر	

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې له لاندې ګډو وډو کلمو څخه سم بيت جوړ کړي.

۱. مورډ، ته، غنم، جوار، بزګران، او داسې، کري، نور.

۲. ګران دی، د بې کارۍ، کار وکړئ، ژوندون، څکه چې.

ورمونه (پندونه)

موخه: د ورمونو په معناګانو پوهېدل ، په ژوند کې پرې عمل کول او د متن سم لوستل او سم لیکل دي.

پوښتنې

۱. ګرانو زده کوونکو! کله مو له چا څخه ورمونه اورېدلي دي؟

۲. له مور، پلار،استاد او نورو مشرانو څخه د ورمونو اورېدل څه ګټه لري؟

۳. ورمونه څه معنا لري؟

ښه خلک هغه دي، چې نورو ته ګټه ورسوي.

پرخپلو ژمنو وفا وکړئ.

په دنیا کې ښه عمل، د دین او دنیا کرونده ده.

څوک چې خپله ژبه له بدو خبرو څخه ژغوري، په ژوند کې نه پښېمانېږي.

څوک چې بل چاته کوهي کیني، خپله په کې لوېږي.

د بې فکره او بې تدبیره کار نتیجه خرابه ده.

له ښو خلکو سره دوستي کوئ اود بدو خلکو له دوستۍ څخه ځان وساتئ.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې په وار سره هر یو لوستل شوي ورمونه ولولي اوڅو نور زده کوونکي دې د ورمونو په مطلب د ټولګي په مخ کې لنډې خبرې وکړي.
- زده کوونکي دې ورمونه په یادو زده کړي او په ښکلي لیک سره دې په خپلو کتابچو کې ولیکي!

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې ورمونه په خپلو کتابچو کې ولیکي او په یاد، دې زده کړي.

دوه پنځوسم لوست

مـــتلونـــه

موخه: د متلونو پېژندل، دهغو په معنا او ارزښت پوهېدل په ورځني ژوند کې د متلونو سم او په ځای کارول، د متلونو ليکل او زده کول دي.

پو ښـتنې:

١. تاسوله متلونو سره آشنايي لرئ؟
٢. ولې په خپلو خبرو کې متلونه کاروو؟
٣. څوک کولی شي چې متل ووايي؟

خپل عمل د لارې مل دی.

چـــې څه کرې هغـــه به ريبې.

ژرنده کـــه د پلار ده هم په وار ده.

چيرې چې اوسې، په خوی به د هغو شې.

له يوه لاس څخه ټک نه خېژي.

په يوه ګل نـــه پســـرلی کيږي.

مار ته په لستوڼي کې ځای مه ورکوه.

خپله ژبـــه هـــم کلا ده هـــم بـــلاده.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- د متلونو متن په لوړ آواز د ټولګي په مخکې ولولئ!
- یو د بل په مرسته لوستل شوي متلونه د املا په توګه ولیکئ!
- په ګروپي توګه د متلونو په هکله خبرې وکړئ او بیا دې د هر ګروپ یو غړی د ټولګي مخې ته راشي او یو متل دې په شفاهي توګه نورو ته ووایي او په مطلب یې لنډې خبرې وکړي.

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې لوستل شوي متلونه په ښکلي لیک ولیکي او په یاد دې زده کړي.

د منې موسم

موخه: زده کوونکي دمنې موسم وپېژني او په دې وپوهېږي چې بزګران د پسرلي له کار او زيار څخه د منې په موسم کې ګټه اخلي.

پوښتنې:

۱. ويلی شئ چې منی د کال څووم موسم دی؟

۲. تاسې د منې د مياشتو نومونه ويلی شئ؟

۳. آيا د منې په موسم کې د هوا او دمېوو په هکله معلومات لرئ؟

منی د کال درېيم موسم دی. دا موسم هم درې مياشتې دي. (تله، لړم او ليندۍ) چې د ميزان،عقرب او قوس په نامه هم بللی شي. کله چې د اوړي موسم پای ته ورسېږي، د اوړي تودوخه ورو ورو لږه شي او کله چې د تلې د مياشتې لومړۍ ورځ راورسېږي، ورځ او شپه سره برابره شي. هوا نه سړه وي او نه توده. هره خوا سمسوره او په ډول ډول ګلانو او د دې موسم په ځانګړي رنګ سره لکه دويم پسرلی رنګينه ښکاري.

د منې په موسم کې د هېواد د سړو او تودو سيمو د ونو پاڼې په ژېړيدو پيل کوي او ورو، ورو رژېږي. انګور، ختکي، منې او داسې نورې مېوې په دې موسم کې ښې پخېږي او د خوړلو لپاره تيارېږي. يوه برخه يې له هېواد څخه بهر نورو هېوادونو ته هم لېږل کېږي، چې هلته لوی لوی بازارونه لري.

د زده کوونکو فعالیت:

- زده کوونکي دې په خپلو ګروپونو کې د لوست متن ولولي او بیا دې د منـــي د ګټو په هکله له یو بل سره خبرې اترې وکړي.
- زده کوونکي دې د مني د میاشتو نومونه دچوکاټ په تشو ځایونو کـــې پـــه خپلو کتابچو کې ولیکي. [ ] [ ] [ ]
- زده کوونکي دې دلاندې کلمو معنا له چوکاټ څخه پیداکړي او د کلمو تر څنګه دې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

١. موسم:__________

٢. تودوخه:_________

٣. رژیږي:_________

موسم، ګرمي، تویېږي

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د مني د مېوو څو نومونه ولیکي.چې په دې موسم کې ښې پخېږي.

د ژمي موسم

موخه: د ژمي د موسم پېژندل، د دغه موسم د هوا په ډېر بدلون او سړېدو باندې پوهېدل او د ژمي په يخنۍ کې د ځان ساتنې ذهنيت ور کول دي.

پوښتنې:

١. په پورتني انځور کې کوم موسم وينئ؟
٢. ويلی شئ چې ژمی د کال څووم موسم او ددې موسم د مياشتو نومونه څه دي؟
٣. خلک د ژمي د رارسېدو لپاره څه تياری نيسي؟

ژمی د کال څلورم موسم دی. (مرغومی، سلواغه او کب) د ژمـــي د درې مياشتو نومونه دي، چې ځينې خلک يې د (جدي، دلوې او حوت) په نومونو هم يادوي. په ژمي کې د لمر وړانګې او تودوخه کمزورې وي، هوا ورو ورو سړه شي. ځينو تودو سيمو او ځايونو کې ځينې مېوه لرونکې او بې مېوې ونې لکه د نارنج، سبر، نښتر ا و داسې نورې، چې د ننګرهار، لغمان، کونړ، کندهار، پکتيا په ولايتونو کې ډېرې دي، همېشه شنې پاتې کېږي، په سړو سيمو کې ډېرې واورې او بارانونه اورېږي، خو که په تودو سيمو کې واوره وشي، ژر ويلې کېږي. واورې او بارانونه د کښتونو لپاره ډېرې ګټې رسوي.

يومتل دی چې: (کابل بې زرو ښه دی نه بې واورو). په کابل او نورو سړو سيمو کې چې د ژمي هوا ډېره سړه شي، نو خلک په خپلو کورونو کې صندلۍ او بخارۍ ږدي او تاوده کالي اغوندي، چې د زياتې يخنۍ له کبله ناروغه نشي. نو هغه خلک چې شتمن دي، ور ته په کار ده چې په دغه موسم کې له بې وزلو خلکو سره د خپل توان په اندازه مرسته وکړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- د ژمي د لوست متن ولولئ او دژمي په هکله له يو بل سره خبرې وکړئ.
- لاندې پوښتنو ته په شفاهي توګه ځوابونه ووایئ؟

- ژمی د کال څووم موسم دی؟
- د ژمي مياشتې په نورو کومو نومونو باندې يادوي؟
- په کومو سيمو کې د نارنج، سبر، نبنتر او داسې نورې ونې پيدا کېږي نومونه يې واخلئ؟
- څو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او د ژمي د اړتياو په هکله دې معلومات وړاندې کړي او بيا دې زده کوونکي د متن له مخې د يو بل په مرسته د املا کار وکړي.

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې د ژمي د مياشتو نومونه په خپلو کتابچو کې وليکي.او په لنډو جملو کې دې وکاروي.

د اور ګټې او زیانونه



موخه: د متن لوستل، لیکل، د اور د ارزښت،ګټو او زیانونو په هکله زده کوونکو تــه معلومــات ورکول دي.

پوښـتنې:

۱. ستاسو په نظر اور ګټې لري که زیانونه؟
۲. مورږ په ژوند کې اور ته څه اړتیا لرو؟

په پخوا زمانو کې خلکو اور نه پېژانده. کله به چې لمر لویده او هوا تیاره کېده، ټول خلک ویده کېدل، خلکو په هغه زمانه کې د هوا د سړېدو له کبله د غرونو په غارونوکې ژوند کاوه. د ځان د تودولو لپاره یې هېڅ ډول وسیلې نه درلودې.

سابه او دڅارویو غوښې به یې اومې خوړلې. ښایي کومه ورځ به په ناڅاپي ډول د برېښنا او تندر (الماسک) د اور له امله کومې ونې اور اخېستی وي، او د انسان پام به د هغه رڼا او تودوخې ته شوی وي. یا دا چې ښایي د دوو تېږو د سولېدو په وسیله به اور پیدا شوی وي، خو د هغه وخت انسانانو ترې زده کړل چې څرنګه اور پیدا او بل کړي، اوڅه ډول له اور څخه ګټه واخلي.

د اور موندنه او کشف کول د انسان له ارزښتنا ناکو کارونو څخه شمېرل کېږي. د وختونو په تېرېدو سره له اور څخه په ګټو اخیستلو باندې هم پوه شول چې د انسانانو د ژوند د بدلون سبب وګرځېده. وروسته یې له اور څخه

دخوړو د پخولو او د يخنۍ په وخت کې يې د ګرمولو لپاره کار واخيست او د هغه د رڼا څخه يې هم ګټه پورته کړه، خو بايد پام وکړو، چې له اور سره هېڅکله لوبې او بې پروايي ونه شي او له ډېر احتياط څخه کار واخيستل شي. ځکه اور په هغه اندازې چې ګټور شی دی. په همغې اندازې خطرناک هم دی، چې بيا د هغه مخنيوی ډېر ګران او له توان څخه لرې خبره ده.

د زده کوونکو فعاليتونه:

- متن په لوړ آواز ولولئ.
- زده کوونکي دې يو بل ته د لوست له مخې املا ووايي او هم د ې د يو بــل غلطۍ ور په ګوته کړي.
- په ګروپي توګه د اور په هکله خبرې وکړئ او بيا دې له هر ګروپ څخه يو تن د ټولګي مخې ته راشي او په شفاهي توګه دې د اور د ګټو او زيانونو پــه هکله نورو ته معلومات وړاندې کړي.

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې وليکي او په لنډو جملو کې دې وکاروي.

(اور، کشف، غروئو، رڼا، تودوخه)

الوتونکي مرغان

موخه: دمتن لوستل، ليکل، د الوتونکو مرغانو او د هغو د ځينو ډولونو پېژندل او په ګټو يې پوهېدل دي.

پوښتنې:

١. تاسو د کومو الوتونکو مرغانو نومونه پېژنئ؟
٢. مورږ د کومو الوتونکو له غوښو او هګيو څخه ګټه اخلو؟
٣. کوم الوتونکي په اوبو کې لامبو وهلی شي؟

ځيني مرغۍ او مرغان الوتونکي دي. چې په هوا کې الوزي، له يوه ځای څخه بل ځای ته تګ راتګ کولی شي، ځيني الوتونکي ټول ژوند په يوه ځای کې تېروي، لکه چنچنې، ښاروګانې، زرکې او داسې نورې، خو يو شمېر الوتونکي په ژمي کې تودو سيمو ته کوچ کوي، او د اوړي په توده هوا کې بېرته خپلو ځايونو ته راځي مرغان ډېر ډولونه لري لکه زانې، بازان، باښې او داسې نور چې قوي وزرونه لري په هواکې ډېر جګ او لوړ الوزي. ياد شوي الوتونکي قوي منښوکې او منګولې لري، چې نور مرغان او حيوانات پرې ښکار کولی شي، نو له همدې امله غوښه خوړونکي مرغان بلل کېږي. يو شمېر مرغان د خپلو پرده لرونکو پنجو په مرسته په اوبو کې لامبو وهي. لکه هېلۍ، بتې، ډېنګ او نور.

لغتونه او معنا ګانې:

مېنبوکه :	تېونګه
منګولې :	پنجې

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلوګروپونو کې متن ولولئ د مرغانو په هکله یو د بل سره خبرې وکړئ او وروسته دې له هر ګروپ څخه یو تن د ټولګي مخې ته راشي د مرغانو او دهغو په ګټو دې خبرې وکړي.
- په لاندې چوکاټ کې د ځینو مرغانو نومونه لیکل شوي دي. تاسـې یـوازې د لامبو وهونکو مرغانو د نومونو څخه یوه کرښه راتاوه کـړئ او بیـا د لانـدې چوکاټ په شان د هغو نومونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

بازان، بانبې، چنچنې، هیلۍ، بتې، ډینګ

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې لاندې جملې د قوسونو په مناسبو کلمو سره ډکې کړي.

۱. ځینې مرغۍ او مرغان الوتونکي ___________. (دي، ده)

۲. ځینې الوتونکي ټول کال په یو ځای کې ژوند ________. (تېروي،لري)

اووه پنځوسم لوست

رښتینی هلک

موخه: چې زده کوونکي د انصاف او رښتینولۍ په ارزښت وپوهېږي او په متن کې د مفردواو د جمع کلمو توپیر وکړي او دا متن سم ولولي او ويې لیکي.

پوښتنې:

۱. په پورتني انځور کې څه وینئ؟

۲. د شیانو په پلورلو کې انصاف کول ښه کار دی؟

یو هلک په خپل پلورنځي (دوکان) کې د اړتیا وړ شیان خرخول. یو سړی راغی، دوې هګۍ يې واخیستې. د اخیستونکي فکر نه و، د پینځو افغانیو په ځای يې لس افغانۍ ورکړې او ترې روان شو، هلک پوه شو، چې اخیستونکي ورته د پینځو افغانیو پرځای لس افغانۍ ورکړې،له پلورنځي ووت او ورپسې يې منډه کړه او هغه ته يې وویل: ماما! دالس ګون در واخله او ته پنځه افغانۍ راکړه، دا ځکه چې زما پینځه افغانۍ پر تا کېږي.

اخیستونکي د دغه هلک له رښتینولۍ او صداقت څخه ډېر خوشحاله شو. نو ورته يې وویل: شاباس! ستا له رښتینولۍ نه ډېر خوښ شـــوم. الله (ج) دې نېکمرغه لره، او دا پنځه افغانۍ دې هم تاته بخشش وي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- متن ولولئ او بیا د متن په مطلب له یو بل سره خبرې وکړئ.
- د هر ګروپ یو تن دې د ټولګي مخې ته راشي او د لوست مطلب دې په خپله ژبه ووايي.
- یو بل ته د کلمو او جملو املا ووایاست!
- له مفردو کلمو څخه د جمع کلمې جوړې کړئ.

مفرد	جمع
هلک	هلکان
سړی	
اخیستونکی	
فکر	

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې له لاندې ګډو وډو کلمو څخه یوه جمله جوړه کړي.

(ډېر، خوشحاله شو، اخیستونکی، د دغه هلک له ربنتینولۍ څخه)

اته پنځوسم لوست

دکورنيو چرګکانو ساتنه

موخه: د متن لوستل، ليکل ، دکورنيو چرګو او چرګانو روزنه او د هغو په سمې پالنې او ګټو پوهېدل دي.

پوښتنې:

۱. تاسې په کور کې دچرګو او چرګانو د ساتنې سره مينه لرئ او دهغو په سمې ساتنې پوهېږئ؟

۲. د کورنيو چرګانو څخه کومې ګټې اخلو؟

عابدې په کور کې چرګې او چرګان ساتلي وو. د هغې چرګې او چرګان ورځ په ورځ خوارېدل، چرګو يې هګۍ نه اچولې،عابده نه پوهېده چې څه وکړي؟ يوه ورځ چې اکا يې شېر محمد د دوی کورته راغی نوعابده يې خپه وليده. شېر محمد اکا ور څخه وپوښتل چې څه خبره ده؟ عابدې ورته وويل: کاکا جانه! زما چرګان ورځ په ورځ خوارېږي او هګۍ هم نه اچوي، نه پوهېږم چې څه وکړم؟ هغه ورته وويل: دچرګو اوچرګانو مرغانچه پاکه ساته! ښه او پاک خواړه او اوبه ورکوه! او په خپل وخت يې واکسين کوه، چرګې او چرګان به دې ښه شي، ځکه چې واکسين چرګان له ناروغيو څخه ژغوري. عابدې دا کار وکړ، هماغه و چې چرګې او چرګان يې غوښن او تندرست شول او چرګې يې په هګيو راغللې، اوس نوعابده خوشحاله ده، ځکه هره ورځ له خپلو چرګو څخه هګۍ ټولوي اوبازار ته يې د پلورلو لپاره وړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- متن ولولئ او بیا له یو بل سره د کورني چرګانو دګټو په هکله خبرې وکړئ.
- لاندې نیمګړې عبارتونه په خپلو کتابچو کې بشپړ کړئ.

- عابدې په کور کې چرګان ساتلي................ .
- دهغې چرګان ورځ په ورځ...................... .
- عابده نه پوهېده چې څه ....
- یوه ورځ چې اکا یې شېر محمد د دوی کورته ....
- نو عابده یې خپه ....
- شېر محمد اکا ور څخه وپوښتل چې څه ....
- عابدې ورته وویل: چې کاکا جانه! زمـا چرګـې او چرګـان ورځ پـه ورځ خوارېږي او هګۍ هم ....
- هغه ورته وویل: د چرګو او چرګانو مرغانچه پاکه ساته! ښه او پاک خـواره او............ .

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې د (چرګان، هګۍ، بازار) کلمې په لنډو جملو کې وکاروي او په خپلو کتابچو کې دې ولیکي.

پر حیواناتو زړه سوی

موخه: د متن سم لوستل، لیکل، پر ځارویو باندې د زړه سوي درلودل دي.

پوښتنې:

١. ستاسې په نظر په ځارویو باندې زړه سوی ښه کار دی؟

٢. آیا ویلی شئ چې له غوا، آس او چرګانو څخه کومې ګټې اخیستل کېږي؟

خدای (ج) ټول ځاروي د انسانانو د خدمت او ګټې اخیستلو لپاره پیدا کړي دي او لوی خدای (ج) د دوی په واسطه د لویو نعمتونو د رالېږلو مهرباني کړې ده. د غواګانو، مېږو او وزو څخه غوښې او شیدې را کوي، د چرګو له غوښو او هګیو څخه نور په زړه پورې خواړه برابر وو. د ځینو نورو حیواناتو له غوښو، پوستکو او وړیو څخه هم د ژوند نورې اړتیاوې پوره کوو.

بار وړونکي حیوانات هم زموږ د ژوند په سمبالولو کې لویه برخه لري. نو په دې ترتیب د انسانانو د ژوند بېلابېلو خواوو د دغو حیواناتو په دغو ځانګړتیاو سمون موندلی دی. په کار ده چې موږ حیواناتو ته زیان و نه رسوو او پرې زړه سوی ولرو. یوه پخوانۍ کیسه ده چې وایي: یو سړی چې ډېرګناهکاره و، یوه

ورځ له یوه کلي څخه تېرېده، هلته يې یو سپی ولید چې د تندې له لاسه نږدې دی چې مړ شي.
سړي له څاه څخه اوبه را وایستلې او سپي ته یې ورکړې او هغه یې له مرګ څخه وژغوره لوی خدای (ج) د همدې زړه سوي په خاطر د هغه ګناهکار سړي ټولې ګناوې وبخښلې.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- متن په لوړ آواز ولولئ.
- په څارویو باندې د زړه سوي په هکله خبرې وکړئ.
- د څو څارویو د نومونو املا دې یو بل ته ووایي.

کورنۍ دنده:

- لاندې پوښتنې او ترڅنګه یې دهغو ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ!

- له غوا څخه څه شی لاس ته راوړو؟
- موږ او تاسې ولې باید پر څارویو باندې زړه سوی ولرو؟
- سړي څه شی ولید او څه یې وکړل؟
- هغه ګناهکار سړي سپي ته ولې اوبه ورکړې؟
- لوی خدای(ج) له هغه ګناهکار سړي سره څه وکړه؟

مرغان او د ځالو جوړونه

موخه: چې زده کوونکي په دې پوه شي چې الوتونکي هم د خپل نسل د دېربښت او پايښت لپاره خپلو ځانواو بچيو ته ځالې جوړوي، په ځالو کې هګۍ اچوي او خپل بچي پــه کـــې روزي.

پو ښتنې:

۱. الوتونکي په پسرلي او اوړي کې څه کوي؟
۲. څه فکر کوئ چې الوتونکي ولې ځالې جوړوي؟
۳. مرغان خپلې ځالې له څه شي څخه جوړوي؟

کله چې هوا توده شي ونې شنې او د هېواد هره خوا سمسوره شي، الوتونکي د ځالو په جوړولو پيل کوي. ښاروګانې، چڼچڼې، طوطيان، کارغان او داسې نور مرغان د ونو په ښاخونو، باغونو، ځنګلونو او د ځينو دېوالونو په سوريو او لوړو غرونو کې دخپلوځالو په جوړولو لګياوي،الوتونکي په دښتو، پټيو او د باغونو په شاوخوا کې الوزي واښه راټولوي او په خپلو مښوکو او پښو سره يې يو په بل باندې په ترتيب سره ږدي او په لږه موده کې ښکلې ځاله جوړوي.

پوهېږئ چې بيا په ځاله کې څه کوي؟ په خپلو ځالو کې ژوند کوي، هلته هګۍ اچوي او له هګيو څخه څه موده وروسته واړه واړه ښکلي، بچيان راباسي.بيانو

د کوچنیو الوتونکو مور اوپلار دوی ته خواړه راوړي، خپلو بچیو ته يې په خوله کې ورکوي، تر څو چې بچې يې لوی شي او والوزي.
مورې ته په کار ده چې د مرغانو ځالو ته لاس ورنه وړو، د هغو ځالي ورانې نه کړو او بچیانو ته يې آزار ونه رسوو. ځکه چې د مرغانو بچي هم خپلو میندو او پلرونو ته ګران دي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلو ګروپونو کې متن ولولئ بیا د لوست په مطلب له یوه بل سره خبرې وکړئ.
- د لاندې پوښتنو سم ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.
  ۱. مرغان چیرې ځالې جوړوي؟
  ۲. مرغان په څه شي کې ژوند کوي؟
  ۳. مرغان چیرې هګۍ اچوي؟ او له هګیو څخه څه شی منځ ته راځي؟
  ۴. مرغان څه شی خوري؟
- زده کوونکي دې د متن له مخې له یو بل سره ځینې کلمې او جملې د املا پــه توګــه وکاروي.

کورنۍ دنده:

– زده کوونکي دې د لاندې جملو تش ځایونه دقوسونو په مناسبو کلمو سره په خپلو کتابچو کې ډک کړي.

الف: الوتونکي د ځالو په جوړولو پیل ________. (کوي، کوی).

ب: مورې ته په کار ده چې د مرغانو ځالوته لاس ور نه وړو او د هغو ځالي ورانې ________. (نه کړو، ورانې)

ښه کړه وړه

موخه: د ښو کړو وړو په ارزښت پوهېدل، له ناوړه چلند څخه ځان ژغورل، د ژوند په چارو کې د ښو کړو وړو غوره کول او په لوست کې د نومونو پېژندل دي.

پوښتنې:

۱. په پورتني انځور باندې څوک خبرې کوي؟

۲. آیا د ښې رويې په اړه څه پوهیږئ چې څنګه پایلې لري؟

۳. تاسې له خپلو ټولګیوالو او همزولو سره څه ډول رویه باید ولرئ؟

زرغونه په درېم ټولګي کې زده کړه کوي. هغه چې پرون د ښوونځي څخه کور ته راغله، ډېره خپه وه، مور يې ترې پوښتنه وکړه: لورې! ولې خپه يې څه پېښه شوې ده؟ زرغونې ورته وویل: درېم ساعت و، غوښتل مې چې د پښتو د نوي لوست کلمې د ښوونکي له لارښوونې سره سم په خپلې کتابچې کې ولیکم. لاسي بکس کې مې خپل قلم ولټاوه، نه و.

په دې وخت کې مې ورمې ته پام شو چې زما په قلم باندې لګیا ده لیکنه کوي. هغې ته مې وویل: چې بې له اجازې څخه د چا قلم مه اخله. دا ښه کار نه دی یو ځل ورمې په ډېره بده رویه قلم راته ګوزار کړ او داسې يې راته وویل: واخله خومره ورېې يې، خوما د هغې په وړاندې هېڅ ونه ویل ډېره ترې خپـــه او خواشینې شوم. ځکه چې هغې زما د لاسي بکس څخه بې له اجازې قلم اخیستی

و. او د دې پرځای چې له ما څخه بخښنه وغواړي او مننه وکړي. په بد ډول يې قلم راته را ګوزار کړ.

د زده کوونکو فعاليتونه:

- يو بل سره متن ولولئ!
- لاندې څو کلمې درکړل شوي دي. په کلمو کې نومونه پيدا کړئ او په خپلو کتابچو کې يې وليکئ!

خپه- زرغونه- قلم- ليکنه- ورمه.

- زده کوونکي دې د بد چلند په اړه خبرې وکړي.

کورنۍ دنده:

- لاندې جملې په خپلو کتابچو کې په مناسبو کلمو سره بشپړې کړئ!

○ زرغونه په دريم ټولګي کې زده کړه __________.

○ بې له اجازې څخه د چا قلم __________. دا ښه کار __________.

○ او بې له منني څخه يې __________.

د شاتو مچۍ

موخه: د شاتو د مچیو روزل او د هغود ګټو او ګډ ژوند په هکله معلومات ورکول اود دغه لوست سم لوستل او لیکل دي.

پو ښتنې:

۱. په پورتني انځور کې څه وینئ؟

۲. د شاتو مچۍ مو لیدلې او پوهیږئ چې له هغو څخه څه شی لاس ته راځي؟

د شاتو مچۍ ډېره ګټوره حشره ده. مچۍ په خپل منځ کې منظم ژوند لري او د دوی د ژوند نظم د نورو ژوو په ګډ ژوند کې نه لیدل کېږي. ځینې خلک د شاتو مچۍ په صندوقونو کې ساتي او د هغو روزنه کوي، او ځینې ورته د کور په لوړو دیوالونو کې له ډبروڅخه ځایونه جوړوي.

په هر صندوق کې تر څلویښتو زرو مچیو پورې ژوند کوي. د شاتو مچۍ په ګرمو ځایونوکې چې هلته ګل لرونکي بوټي او ګلان ډېر وي په زیاته اندازه شات ورکوي. په هر صندوق کې یوه ملکه وي چې ښځینه مچۍ ده، نور یې کار ګران او ساتونکي دي د ملکې دنده هګۍ اچول دي، د نورو مچیو دنده د ګلانو څخه د شیرې زیښنل دي چې شات ورڅخه لاس ته راځي، همدارنګه دکورونو جوړول هم ددوی په غاړه دي او د دوی په وجود کې د شمعې د موم په شان موادشته چې د خپلو کورونو په جوړولو کې ځنې کار اخلي، او خپلو

بچیو ته خواړه هم له شاتو څخه ورکوي.زموږ په هېواد کې د مچیو روزلو او ساتلو ته ډېره پاملرنه کېږي. شات د روغتیا لپاره ډېر ګټور خواړه دي چې بدن پیاوړی کوي.

مآخذ: افغان اساسي قابلیتونو پښتو لپاره د زده کړې لازمي مواد

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په ګروپونو کې د لوست متن ولولئ! بیا د شاتو د مچیو د کار، فعالیـــت او ګټو په هکله یو له بل سره خبرې وکړئ. یو تن دې د ټولګي مخې ته راشـــي او د شاتود مچیو په اړه دې معلومات وړاندې کړي.
- د لاندې کلمو لپاره په چوکاټ کې دوه معناګانې درکړل شوي دي. تاسې یې سمه معنا غوره کړئ او د کلمو تر څنګه یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ!

شات:__________

ګرم: __________

هېواد:__________

عسل ، بوره
سوړ، تود
ښار، وطن

کورنۍ دنده:

– زده کوونکي دې (د شات، مچۍ ، ګټور) کلمې په جملو کې وکاروي او په کتابچو کې دې ولیکي!

درې شپېتم لوست

وريښم څرنګه لاس ته راځي؟





موخه: د متن سم لوستل، سم ليکل، د نويو کلمو په معنا پوهېدل او د وريښمو پېژندل او په ارزښت يې پوهېدل دي.

پوښتنې:

۱. ستاسو په نظر وريښم څه شی دی؟ او څنګه لاس ته راځي؟

۲. له وريښمو څخه څه شی جوړيږي؟

وريښم د وريښمو له کوچني چينجي څخه لاس ته راځي. په دې توګه چې دا کوچنی چينجی له ځان څخه نازک تارونه تاووي او په همدې نازکو تارونو کې چې د خونې په توګه ورته جوړه شي، ژوند کوي. چې همدې وريښمني خونې يا غوزې کې د دوو څخه تر درې اونيو پورې پاتې کېږي. او په همدغه وخت کې ورو ورو الوتلو ته تياريږي. چې په پای کې د وريښمو خونه سوری کوي او له هغې څخه بهر راوزي او هګۍ اچوي چې له دې هګيو څخه نور دوريښمو چينجي پيدا کېږي، د وريښمو د چينجيو خواړه د توت پاڼې دي.د وريښمو د لاس ته راوړلو په خاطر دا غوزې په مناسبو او تودو ځايونو کې ساتي چې د وريښمو چينجي له وتلو او يا د پيدا کېدو څخه مخکې مړه نه شـــي

وروسته بیا د وربښمو غوزه چې په اصل کې یـــو اوږد تــــار دی، ورو ورو خلاصوي.

دا تارونه په خاص مهارت سره تاووي او له هغې څخه د وربښمو ټوکر او نور شیان چې ډېرارزښتناک، کلک او کم پیدا کېږي جوړوي چې دغه وربښمین شیان د نړۍ په ټولو بازارونو کې خپل ارزښت لري.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې متن په لوړ اومناسب آواز ولولي.
- د وربښمو په اړه دې معلومات ورکړي.
- لاندې کلمې په خپلو ګروپونو کې هېجا کړئ!

(وربښم– تارونه– هګۍ– ټوکر)

کورنۍ دنده:

– زده کوونکي دې دا کلمې په لنډو جملوکې وکاروي او بیا دې په خپلــو کتابچو کې ولیکي. (وربښم، تارونه، هګۍ، ټوکر)

روغه جوړه



موخه: د متن لوستل، ليکل د شخړو او لانجو څخه ځآن ساتل او د روغې جـــوړې پـــه ارزښت او ګټو پوهېدل دي.

پوښـتنې:

۱. تاسو د روغې جوړې په هکله څه اورېدلي دي؟
۲. د تاسو په فکر روغه جوړه موږ ته څه ګټې لري؟

يوه ورځ اجمل له خپل ورور خټک سره د لوبو کولو په وخت کې په شخړه شو، يو د بل په وهلو او ټکولو يې پيل وکړ، چې ناڅاپه يې پلار کور ته راغی، ګوري چې دواړه په جګړه اخته دي، پلار يې دوی سره خلاص کړل. اجمل له خټک څخه مشر و، پلار يې داسې ترې وپوښتل: زويه! په څه شي باندې دې له خټک سره لانجه وه؟ اجمل وويل:« پلار جانه! ده زما توپ واخيسته او بېرته يې نه راکاوه، هرڅومره مې چې ورته وويل، توپ زما دی، خو نه يې منله، اړ شوم چې توپ ترې په زوره واخلم، خو خټک په ما ګوزارونه وکړل، ما هم پرې ګوزارونه وکړل.» پلار يې چې د اجمل خبرې واورېدې بيا يې داسې ورته وويل:« زويه! ته خو مشر يې بايد په خپل کشر ورور ډېره مهرباني ولرې. همدارنګه خټک چې له تا نه کشر دی بايد ستا د مشر توب درناوی په پام کې ونيسي. په پای کې يې داسې وويل: کوښښ وکړئ چې په لوبو کې له يوبل سره په هېڅ شي بې ځايه شخړه او لانجه ونکړئ ځکه شخړې او لانجې د خپګان سبب ګرځي.»

د زده کوونکو فعالیتونه:

- د لوست متن په لوړ آواز ولولئ!
- د لاندې چوکاټ ضد کلمې د کرښې په وسیله په خپلو کتابچو کې ونښلوئ!

ورځ	مشر
کشر	سوله
دښمني	دوستي
شخړه	شپه

- د لاندې جملو تش ځایونه د قوسونو په مناسبو او سمو کلمو سره په خپلو کتابچو کې ډک کړئ.

– یوه ورځ اجمل له خپل ورور ختیک سره د لوبو کولو په وخت کې په __________شو. (شخړه– جګړه)

– چې ناڅاپه یې پلار کور ته ____________. (ورغی– راغی)

کورنی دنده:

– لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او په لنډو جملو کې یې وکاروئ.
(شخړه– روغه جوړه– مشر)

د زرد آلو زړی

موخه: د زده کوونکو د لوستلو اولیکلو مهارتونو ته وده ورکول او ددې کیسې په موخې پوهېدل دي.

پوښتنې:

۱. په انځورکې څه وینئ؟
۲. زرد آلو په کوم موسم کې پیداکېږي؟
۳. په اوړي کې کومې ،کومې میوې پخېږي؟

یوه ورځ یو هلک په لار کې زردالو خوړل او زړي یې غورځول. یوه زوړ بزګر چې هلته په خپل پټــي کې په کار بوخت و، زړي یې راټول کړل او د لارې په څنګ کې یې تر خــاورو لاندې ښخ کړل. هغه هلک د بزګر دا کــار ولید. خو څه یې ونه ویل او خپله لاره یې ونیوه.

څو کاله وروسته هلک له هغه ځایه تېرېده ګوري چې د زړي په ځای یو ښه نیالګی شین شوی دی.بزګر یې په اوبو ورکولو لګیا دی. له دې خبرې نه څوکاله نور هم تېر شول. دا هلک چې ځوان او زلمی شوی بیا له همدغه ځای څخه تېرېږي. ګوري چې د زردآلو ونې خورا ډېرې مېوې نیولې دي. خو هغه بزګر هلته نشته ځوان هلک د دې ځای له ګاونډیانو او خلکو څخه د هغه پوښتنه وکړه، خو داسې څرګنده شوه چې څه موده مخکې هغه مړ شوی دی. ځوان د زردآلو ونې ته ورنږدې شو دوه دانې یې ترې راوشکولې او هغه سپین ږیري بزګر ته یې دعاګانې وکړې، چې د زرد آلو د زړو یې دومره روزنه کړې وه. خو دا ځلې په خپله ده هم د زردآلو زړي ونه غورځول او په خپله باغچه کې یې وکرل.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلو ګروپونو کې لوست ولولئ او په مطلب يې له يو بل سره خبرې وکړئ!
- د لاندې جملو تش ځایونه د قوسو په ليکل شوو مناسبو کلمو ډک کړئ!

- يوه ورځ يوه هلک په لار کې زرد آلو ______.   (خوړل، مينځل)

- يو زوړ بزګر چې هلته په خپل پټي کې په کار بوخت و، زړې يې را ټول ______ او دلارې په څنګ کې يې تر خاورو ______ ښخ کړل.

(خوړل- مينځل- کړل- لاندې)

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې لوستل شوې کیسه په يادو زده کړي او په بله ورځ دې نومورې کیسه نورو ته ووايي.

زيار او هوسايي

موخه:د ګډې مرستې په ارزښت او ګټو پوهېدل، ددې کېسې سم لوستل او ليکل دي.

پوښتنې:

١. هغه کسان چې له يو بل سره په کارونوکې مرسته کوي نتيجه به يې څنګه وي؟
٢. آيا تاسې هم يود بل سره مرسته او همکاري کوئ؟

په يوه ځای کې دريو ملګرو (ايمل، ميرويس او خوشحال) سره ګډ ژوند کاوه. يوه ورځ ايمل چې څه غنم درلودل فکر يې وکړ، که د غنمو داني وکرم، نو ډېرغنم به لاس ته راشي، دا کار يې خوښ شو. د غنمو په کرلو کې يې له خپلو ملګرو نه مرسته وغوښتله. هغوی وويل: (موږ خپل کارونه کوو مرسته نشوکولی) ايمل غنم وکرل، غنم شنه شول، د پخېدو څخه وروسته يې بيا د غنمو په لو، درمند کولواو پاکولو کې مرسته وغوښته، ملګرو يې بيا ورته وويل(موږ خپل کارونه کوو، بې کاره نه يو، مرسته هم نشو در سره کولی) ايمل بيا خپل زيار او همت ته دوام ورکړ.

غنم يې ورييل، درمند يې کړل کورته يې هم راوړل د اوړو کولو، او د ډوډۍ د پخولو په وخت کې يې هم له هغوی څخه مرسته وغوښته. بيا هم هغوی د ايمل سره مرسته ونه کړه. کله چې ايمل ډوډۍ پخه کړه، نو ويې ويل: (څوک زما سره ډوډۍ خوري؟) دوی درواړه په منډه راغلل. ويې ويل: چې موږ به درسره د ډوډۍ په خوړو کې مرسته وکړو.

دوی چې ډوډۍ خوړولو ته ځانونه تيار کړل. ايمل ورته وويل، د کرلو، لوکولو، درمندولو، پاکولو او پخيدو په وخت کې چېرې وئ؟ ډوډۍ چې تياره شوه تاسې يې خوړلو ته راغلئ. د تيار خوړو وخت تېر دی. هر څوک بايد کار وکړي. د خپل کار او زيار ګټه دې وخوري او د نورو د اوږو بار دې نه شي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلو ګروپونو کې متن ولولئ بیا د لوستل شوي متن د مطلب په اړه د کیسې په توګه یو له بل سره خبرې وکړئ!
- د کرښې د نښلولو په واسطه په لاندې چوکاټ کې له تورو څخه په خپلو کتابچو کې بشپړې کلمې جوړې کړئ!

چر	م
غنـ	ی
هیلـ	سته
مر	ډی
در	ګې
ډو	مند

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې لوستل شوې کیسه په یاد زده کړي او بیا دې خپلو ټولګیوالو ته ووایي.

اوه شپیتم لوست

لیک نښې

.   ،   !   ؟   :

موخه:د لوست په متن کې د لیک نښو پېژندل، هغو ته پوره پاملرنه او د متن لوســتل او لیکل دي.

پوښـتنه:

۱. په پورتني چوکاټ کې د لیکلوکومې نښې نښانې پېژنئ؟

شارحه (:) - سواليه (؟) - ندايه (!) - کامه (،) - ټکی(.)

د لاندې متن د هرې جملې په آخر کې د غه لیک نښې وګورئ!

موږ او تاسې هره ورځ بوره خورو. بوره په خوراکي شیانو کې لکه کلچې، روټونه، حلوا، خوږې ډوډۍ او نورو کې کارول کېږي.

ګرانو زده کوونکو! پوهېږئ چې بوره څه ډول لاس ته راځي؟

بزګران، لومړی ځمکه یوې کوي او په هغه کې د لبلبو او د ګنیو (ګنډېريو) تخم کري. د څو میاشتو څخه وروسته بیا لبلبو او ګني پخېږي، بزګر لبلبوله ځمکې څخه راباسي او د ګنډېریو بوټــې رېبي او بیا یې د بورې جوړولــو فابریکې ته وړي.

لبلبو ښه پرېمنځي او له هغه وروسته یې دماشینونو په واسطه میده کــړي. اوبه لویو دېګونو کې یې ښه واېشوي چې ټول اوبه شي. له هغې وروسته په ماشینونو کې ورته څرخ ورکوي چې په دې وخت کې یې رنګ لږلږ سپینېږي

او په پای کې په سپین رنګه پوډر بدلېږي بیا يې له ماشینونوڅخه راوباسي کله چې وچه شوه بیا يې د پلورلو لپاره بازارونو ته وړي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- په خپلو ګروپونو کې متن په ګډه سره ولولئ!
- لاندې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او د هرې جملې په پای کې مناسبې لیک نښې وکاروئ!

الف: موږ او تاسې هره ورځ بوره خورو

ب: بوره په نورو خوراکي شیانو لکه کُلچې رُوټ حلوا او خوږه ډوډۍ کې کارول کېږي او له هغه څخه ګټه اخلو

ج: ګرانو زده کوونکو پوهېږئ چې بوره څه ډول لاس ته راځي

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې لاندې لنډې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکي او بیا دې لیک نښې (؟ ! : ، ٠) د جملو په پای کې سمې وکاروي.

۱. زه هر سهار بوره خورم
۲. ته هر سهار بوره خورې
۳. ګرانو زده کوونکو لبلبوڅخه کوم شیان جوړېږي
۴. بوره په نورو شیانو لکه حلوا روټ کلچوکې کارول کېږي

ساده کلمې

موخه: دمتن لوستل، لیکل دکلمې پېژندل، په معنا اوتعریف یې پوهېدل او په سمه توګه د هغې کارونه ده.

پوهنتنې:

۱. ویلی شئ چې کلمې له څه شي څخه جوړېږي؟
۲. د کلمې په مفهوم او تعریف باندې پوهېږئ؟

کلمه: هر معنا لرونکی لفظ چې زموږ له خولې څخه ووځي کلمه بلل کېږي. لکه احمد، محمود، قلم، کتاب، مېز.
کلمې له تورو او توري له غږونو څخه جوړېږي. همدا رنګه د کلمو له یوځای کېدو او ترتیب څخه جملې جوړېږي او د جملو له یو ځای کېدو نثرونه، نظمونه او شعرونه جوړېږي.

زموږ کور په ښار کې دی. زه هره ورځ خپل ټول درسي مواد (توکي) لکه کتاب، قلم او کتابچه پخپل لاسي بکس کې ږدم او ښوونځي ته روانېږم. زموږ ښوونځی په ډېر ښه ځای کې دی. لوی او ښکلی چمن هم لري زده کوونکي د تفریح په وخت د ښوونځي په میدان کې سپورتي لوبې کوي. زه په ټولګي کې خپل مېز او څوکۍ پاک ساتم. د زده کړې په وخت کې د ښوونکي خبرو ته غوږ نیسم. د پښتو د دریم ټولګي کتابونه چې د ښوونځي د اداري له خوا ماته راکړل شوي دي، هغه ښه ساتم. او پوښ ورته ورکوم. چې خیرې نه شي کله چې لوست پای ته ورسېږي د ترانې په ویلو سره موږ رخصتېږو او د کور په لور روانېږو.

لغتونه او معناګانې:

غږونه :	آوازونه
توري :	حروف

د زده کوونکو فعالیتونه:

- د لوست متن روان او سم ولولئ. او بیا په هغه کې ساده کلمې ورپه ګوته کړئ !
- په خپلو ګروپونو کې څو ساده کلمې ولیکئ!
- د لاندې چوکاټ کلمې په خپلو کتابچو کې په جملو کې وکاروئ!

ټولګی	کتابچه
فوټبال	څوکۍ
میدان	مېز
قلم	کتاب

کورنۍ دنده:

- لاندې کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او په جملو کې یې وکاروئ!
(مېز، څوکۍ ، تخته، قلم، کتابچه)

نهه شپېتم لوست

مرکبې کلمې

موخه: د مرکبو کلمو پېژندل، له مفردو کلمو څخه دهغو توپیراو په لوستلو او لیکلو کې يې سم کارول دي.

پوښتنې:

۱. آیا تاسو مرکبې کلمې پېژنئ؟
۲. مرکبې کلمې څه ډول کلمې دي څوک به په دې اړه کوم مثال ووايي؟

مرکبې کلمې : هغو کلمو ته وايي چې له دوو یا زیاتو خپلواکو کلمو څخه جوړې شوې وي. لکه میرویس میدان، انارګل، ورځپاڼه او نور...

په لاندې جملو کې مرکبې کلمې په نښه اوښه ورته ځیرشئ!

۱. بادام ګل خپلې مور ته يو ټيکرى واخيست.

۲. سرتور ښکلى پيل مرغ لري.

۳. اجمل نوي ښار ته لاړ.

۴. سپين بولدک د کندهار په ولايت کې دى.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- زده کوونکي دې لوست په مناسب آواز ولولي.
- زده کوونکي دې له یو بل سره د مرکبو کلمو په معنا او تعریف خبرې وکړي او د هغو لنډ تعریف دې په یاد زده کړي. او په کلمو کې دې مشق او تمرین وکړي.
- له لاندې کلمو څخه مرکبې کلمې په نښه او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

سپین غر، ګل غوټۍ، بادام ګل، سره بانجان، توربانجان، قلم، کتاب.

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې څو مرکبې کلمې ولیکي.

اویاوم لوست

وروستاړي

تون، والی، جن، ان، مند، من ،تیا،توب

موخه: د وروستاړو لرونکو کلمو پېژندل او په لوستلو او لیکلو کې يې سم کارول دي.

پوښتنې:

۱. په پورتني چوکاټ کې څه لیکل شوي دي؟ څوک يې لولي؟

۲. د وروستاړي په هکله کولی شئ څه ووایاست؟

وروستاړي هغه نا خپلواکي کلمې دي چې د خپلواکو کلمو په پای کې ورسره یو ځای کېږي او د کلمو معنا بدلوي.

۱. پېغلې او ځوانان په پوهنتون کې زده کړه کوي.

۲. د اټک پلار جبار خان اکا هیرجن سړی نه دی.

۳. زموږ خلک د سولې پلویان دي.

۴. انځرګل ډېر ښه هنرمند دی.

۵. خوشحال بابا ډېر قدرمن سړی و.

۶.د زلمیتوب وختونه په بې پروايۍ کې مه تیروئ!

۷. سید جمال الدین افغان په خپلو لیکنو کې پوره وړتیا ښودلې ده.

۸. د امیر کروړ پیاوړتیا د ده له شعرونو څخه څرګندیږي.

دزده کوونکو فعالیتونه:

- د لوست متن په چوپه خوله له ځان سره ولولئ!
- ځو زده کوونکي دې د ټولګي مخې ته راشي او په ليکل شوو جملو کې دې د وروستاړي لرونکي کلمې ور په ګوته کړي.
- مشق او تمرين:
- لاندې جملې ولولئ او وروستاړي لرونکي کلمې پکې پيدا کړئ او په خپلـــو کتابچو کې يې وليکئ.

ــ ربنتين والی د انسان ښه صفت دی. (ربنتين والی)
ــ بډای خلک په ژمي کې ورين کالي اغوندي.
ــ د برياليي خور په روغتون کې بستر ده.
ــ له درواغجن سړي سره څوک ناسته او ولاړه نه کوي.
ــ جمال ښه انځورګر او هنرمند ځوان دی.

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې د (تون، والی، جن، ان، مند، من) وروستاړي په کلمــو کې وکاروي.

يو اوياوم لوست

مختاړي

نا، بې، با، هم

موخه: د مختاړو پېژندل، د مختاړو لرونکو کلمو پېژندل او په ليکنو او لوستنو کې د هغو سمه کارونه ده.

پوښتنې:

۱. پورتني چوکاټ کې څه ليکل شوي دي؟
۳. تاسې د مختاړو په هکله څه ويلی شئ؟

مختاړي هغه نا خپلواکې کلمې دي چې د خپلواکو کلمو په سرکې ور سره نښلول کېږي.او د کلمې د معنا د بدلون سبب ګرځي. لکه پوه، ناپوه، ځای، بې ځای، ادب، با ادب، کار، همکار.

۱. نا پوه سړی لکه ړوند وي.
۲. بې ځايه خبرې کول ښه کار نه دی.
۳. سرتور يو با ادبه هلک دی.

لغتونه او معناګانې:

ناخپلواکه :	نامستقله
بدلون :	تغيير

د زده کوونکو فعالیتونه:

- لوستل شوی متن دې په لوړ آواز سره ولولي.
- زده کوونکي دې يو د بل سره د مختاړي مثالونه مشق او تمرين کړي.
- په لاندې جملو کې مختاړي پیدا او په نښه يې کړئ بیا يې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

١. زه بې کاره نه يم. لکه (بې کاره) په مثال کې

٢. دا خواره ډېر بې خونده دي. (بې) مختاړی دی.

٣. د ناروغ پوښتنه ثواب لري.

کورنۍ دنده:

- زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې څو مختاړي لرونکي کلمـــې ولیکي.

عبارت او جمله

موخه: د عبارتونو پېژندل، د عبارتونو او جملو په توپيرونو پوهيدل دي.

پو ښتني:

۱. عبارت څه ته وايي؟

۲. څوک کولی شي د عبارت یو مثال ووايي؟

جمله او عبارت: هغه يوه يا څو کلمې چې له یو ځای کېدو څخه يې بشپړ مفهوم واخيستل شي جمله بلل کيږي او که څو کلمې سره یوځای شي او پوره معنا ور نه کړي عبارت دی.

لاندې جملو ته ځير شئ اوعبارتونه په کې وګورئ!

- **زه هر سهار د شيدو چای څښم.**
- **زلمی پرون د غزني ښار ته نه و تللی.**
- **د ړندو سره هر ډول مرسته کول ښه کار دی.**
- **د علم زده کړه په هر مسلمان نارينه او ښځې فرض ده.**
- **د ښوونځي ميدان.**
- **د احمد پلار.**

پورتنو ليکنوکې څلور کرښې جملې او ورستۍ دوه کرښې عبارتونـــه دي.

د زده کوونکو فعالیتونه:

- متن دې روان او سم ولولي.
- دجملې تعریف له یاده زده کړئ.
- لاندې جملو کې تش ځایونه دچوکاټ په مناسبو او سمو کلمو سره ډک او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

شخړه
سولې
عزت
روغتیا
مرسته
خلکو

دا دخپلې مور سره په کارونو کې ______ کوي.

ښه زده کوونکي له یو بل سره ______ نه کوي.

سګرټ او نسوار ______ ته زیان رسوي.

افغانان د ______ غوښتونکي دي.

هر انسان خپل ______ لري.

د چاپېریال ساتنه د ______دنده ده.

کورنۍ دنده:

- د لاندې جملو تش ځآیونه په مناسبو کلمو سره ډک او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

ټول افغانان سره ______دي.

د سګرټو او نسوارو کارول ______ته زیان رسوي.

ملالۍ دکور په کارونو کې ______کوي.

نجونې او هلکان په ښوونځي کې ______وايي.

جمله

موخه:دجملو پېژندل او په معنا او مفهوم يې پوهېدل.

پوښتنه

۱. جمله څه ته وايي؟

جمله: يوه ياڅو کلمې چې بشپړه معنا او مفهوم ورکړي جمله ګڼل کيږي لکه: افغانستان په موږ ګران دی.

په پورته جمله کې افغانستان په موږ ګران دی معنا ورکوي او جمله بلله کيږي.

د زده کوونکو فعاليتونه:

- لاندې جملې او عبارتونه ولولئ او له يو بل څخه يې توپير وکړئ او هر يو يې په خپل کتار کې وليکئ.
- زه خوشحاله، شريف زما ټولګيوال دي، پاکوالی د ايمان يوه برخــه ده، زه پاک خواړه خورم، اجمل ښوونځي ته، ايمل کتاب، سپوږمۍ ليک.

کورنۍ دنده:

په خپلو کتابچو کې پنځه جملې او پنځه عبارتونه وليکئ. -

د پوهنې ترانه

پوهنه ده رڼا   وطن ته موښکلا
کتاب او قلم   زموږه رهنما

پوهنه ده رڼا، وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

وطن زما یې ځان   له تا نه شم قربان
ته وینه دافغان   ته لوړ په ټول جهان

پوهنه ده رڼا، وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

آباد اوسې آباد   وطنه ته شې ښاد
مونږه سربښندوپه تا   اوساتو دې آزاد

پوهنه ده رڼا، وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

ته کور یې هم مې ګور   ته پلارېې هم مې مور
ته زړه دآسیا   او زما دسترګو تور

پوهنه ده رڼا، وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

ته ننګ یې دآریا   او تاج یې دیما
ځارېږمه له تا   افغانستان زما

پوهنه ده رڼا، وطن ته موښکلا
کتاب او قلم زموږه رهنما

محمد مُعین مرستیال

درسی کتابونه دپوهني په وزارت پوري اړه لـــري
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع
ده. له سر غړونکو سره قانوني چلند کيږي.

کمپوز او ډيزاين:

عبدالفتاح (ريان)، نصرالدين (ناصر) او حميد الله (غفاري)

د کتاب د استهلاک دوره (۳) کاله.